# دکتاب ځانګړنې

د کتاب نوم : د ژبې د تدریس اصول؟

چمتو کونکي : پوهندوی محمود ساپی او پوهنمل محمد اقا شېرزاد

خپرندوی : د ښوونې او روزنې پوهنتون - پښتو څانګه

د چاپ کال : ۱۳۸۶ ل

کمپوز/ ډیزاین : رفیع الله ستانکزی

www.Ketabtoon.net

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

(Teaching Methods) دتدریس اصول او میتود
دمیتود تعریف او پیژندنه
( Teachers Oriented Method) په ښوونکي باندې متمرکز میتود یا عنعنوي میتودونه
( Students Oriented Method) په زده کوونکو باندې متمرکز میتودون
دمیتودونو ډولونه:
( Lecture Method) ۱ـ دوینا یا لکچر میتود
( Question & Answer Method) ۲ـ دسوال او ځواب میتود
( Discussion Method) ۳ـ مباحثې یامناقشې میتود
( Discovery Method) ۴ـ انکشافي میتود
( Demonstration Method) ۵ـ عملي یا نمایشي میتود
( Repetition & Practicing Method) ۶ـ تکرار او تمرین میتود
د تدریس ځانګړي (اختصاصي)میتودونه
دژبې دتدریس میتود
(د ژبې دزده کړې څلور تکړه توبونه (مهارتونه
الف: دژبې لومړی تکړه توب اوریدل
داوریدلو(غوږنیولو)هدفونه
داوریدلو لپاره څو وړاندیزونه
دغوږ نه نیولو علتونه
دیو ښه اوریدونکي خواص
ب ـ دخبرې کول یا غږیدلو تکړه توب
دغږیدلو دتکړه توب هدفونه
دخبرو کولو تکړه توب
دخبرو کولو لپاره څولارې
دتیلفون داستعمال طریقه
دراپور ویلو طرز
دداستان یا ناول ویل
دداستان لیکلو غوره ټکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل مینځ کې خبرې اترې یا غیررسمي خبرې او ورځینې محاوره
ج ـ دلوستلو تکړه توب
یو ښه لوستونکی څوک دی ؟
په لومړنیو زده کړوکې دلوستلو پړاوونه
۱ـ دتوجه او ذوق رابلل
۲ـ دپټې خولې لوستل
۳ـ په لوړ اواز لوستل
دلوستلو لپاره تیاری
دلوستلو لپاره څنګه پلان طرحه شي؟
څنګه یو ښوونکی دزده کوونکو دلوستلو تیزوالي ته پرمختګ ورکولای شي؟
د ـ دلیکلو تکړه توب
په عامه توګه دلیکلو ډولونه
۱ـ تقلیدي لیکنه
۲ـ ابتکاري یا نوښتي لیکنه
په زده کوونکو کې دلیکلو دتکړه توب پیاوړتیا
دلیکلو لپاره ځینې تمرینونه

تدریسي پلانونه:
دپلان لغوي او اصطلاحي پیژندنه
طویل المدت پلان
دکلني تقریبي پلان طرحه او ترتیب
دکلني تقریبي تدریسي پلان فورمه
میاشتنی موضوعي تقریبي پلان
دمیاشتني تقریبي موضوعي تدریسي پلان فورمه
یوساعته درسي پلان
دیوه درسي پلان اهمیت او ضرورت
دیوه درسي پلان په طرح کولو کې سم ټکي
ددرسي پلان څخه مخکې وړاندوینه
دیوښه درسي پلان اساسي برخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونه اوروزنه دوه مترافې کلمې نه ،بلکې دوه بیلې کلمې دي چې د مفهوم له مخې سره ډیرې نږدې یو دبل لازم ا وملزو دي.په خبرو کې دښوونې کلمه دروزنې څخه مخکې اخستل کیږي اما په عمل کې روزنه تر ښوونې دمخه ده . دمانا له مخې روزنه ډیره پراخه مانا لري او ښونه یې جز ده.دلغوي مانا له مخې ښوونه یو چاته دپوهې هنر یادولو زده کولو ته وایي .

او دروزنې مهمه دنده دانسان دمختلفو جنبو(جمسي ،فکري ،اجتماعي ،ديني ،رواني ، ) اونور وده او اداره ده.

نوویلای شو چې : ښوونه او روزنه دهغو تغیراتو ،ودې او پرمختګ څخه عبارت دی چې دانسان په جسمي ،اجتماعي ،رواني ،تحقیقي ،مفکورو او فني تکړه توبونو کې راوځي .

څرنګه چې دتدریس ښوونه او دتدریس تجربې دښوونکي دمسلکي معلوماتو په لړکې مهم عنصرونه قبول شوي او دننيو ښوونځيو اساسي هدف د ذهني ،جمسي ،احساساتي ،او ټولنیزې روزنې څخه عبارت دی. ددې لپاره چې دغه هدفونه مو په لاس راوړي وي ښه به داوې چې ښاغلی ښوونکی دښوونځیو دسیستم او دتدریس دنورو لارو چارو سره اشنا شي .

دغه لکچرنوټ دلږ وخت لپاره تهیه شوی. خوهغه څه چې دښوونکي لپاره په ځانګړې توګه دهغو ښوونکو لپاره چې په ښوونځیو کې دژبې تدریس نده په غاړه لري ضروري دی په دې لکچر نوپ کې ځای ورکړ شوی . په پیل کې په پخواني عنعنوي تدریسي میتود (په ښونکي متمرکز میتود) باندې رڼا اچول شوې ورپسې په معاصرو میتودونو ډولونه ،څیړل شوي او دهر میتود ګټې او نمیګړتیاوې په ګوته شوي دي .

په دوهم پړاو کې دژبې دتدریس په ځانګړو میتودنو او دژبې دزده کړې څلور تکړه توبونه په تفصیل سره بیان شوي او په پای کې په تدریسي پلانونو باندې چې دښوونکي لپاره یې زده کړه او درلودل لازمي شرط ګڼل کیږي دنمونې سره وړاندې شوي دي ،هیله ده چې ستاسو ښوونکو لپاره داستفادې وړوګرځي.

په درنښت

پوهنیارمحمد اقا شیرزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دتدريس اصول او ميتود Teaching Methods

ميتود يو ناني اصطلاح ده چې له دوو کلمو ميتا(Meta ) هودوس (Hodes ) څخه يې ترکيب موندلی دی .
چې ميتا د (دننه ، په مينځ کې او ددوام ) ماناوې لري او هودوس د (لار) په مانا دی .
په عنعنوي توګه ميتود هغه جوته شوې ، ډاډمنه او لنډه لار ده چې خلک پرې تللي وي او دوې کولای شي چې هدف ته پرې ځان ژر تر ژره ورسوي.
که څوک وغواړي په کار فعاليت يا موضوع کې برياليتوب لاس ته راوړي نو بايد چې دکار او موضوع د سرته رسول په اړه داسې لارې چارې غوره کړي چې دسرته رسولو په بهير کې له ستونزو او خنډونو سره مخامخ نه شي ، د موضوع دسرته رسولو په اړه مطلوبې او مثبتې نتيجې لاس ته رواړل غوره اوعاقلانه ميتود غواړي .
دا لارې چارې چې د يوه هدف دتر لاسه کولو له پاره کارول کيږي ، ميتود نوميږي .
د تدريس ميتودونه هم همداسې منطقي او منظمې لارې او چارې دي چې ښوونکی د هغې په کارولو سره خپل در سي بهير په تولګي کښې پرمخ وړي اوغواړي چې دی او زده کوونکي يې په ډاډمنه ، اغزمنه او آسانه توګه ددرس هدفونه لاس ته راوړي .
ښوونکی بايد ددرس د بهير اغيز منتوب له پاره په تدريس فعاليتونوکې غوره ميتودونه وکاروي ، څو زده کوونکو ته زده کړه مانا داره او هدفمنده شي او دوی وکولای شي له زده کړې څخه دورځني ژوند په بيلابيلو اړخونو کې ګټه واخلي .
دتدريس يو ښه ميتود هغه دی چې له ښوونکو او زده کوونکو دواړو سره په اغيزمنه توګه مرسته وکړي تر څو ژر تر ژره دوی د درس هدفونو ته ورسوي . همداراز چيرې چې ددرس يو نوی براو راځي ښوونکی بايد پدې وپوهيږي او له ځانه سره سمدستي پريکړه وکړي چې د کوم ميتود کارول پدې ځانګړي پړاو کې ترېولو وړ کار دی او درسي فعاليتونو څرنګوالی د کوم ميتود غوره کولو غوښتنه کوي .
په عمومي ډول درسي ميتودونه په دوو برخو ويشل کيږي :
چې يو يې په ښوونکو باندې متمرکز عنعنوي ميتودونه (Teacher Oriented Method ) او بل يې په زده کوونکو باندې يې په زده کوونکو باندې متمرکز يا شاګرد محوري يا نوې ميتودونه (Students Oriented Method ) دي.
ددې دواړو عمومي ميتودونو ځانګړتياوې دادي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف -** په ښوونکو باندې متمرکز یا عنعنوي میتودونه :
دا هغه میتودونه دي چې ښوونکي ددرسي فعالیتونو په بهیر کې د زده کوونکو په پرتله ډیر فعال دي او زیاتر ه درسي فعالیتونه پخپله ښوونکي سرته رسوي او ښونکی ددې فعالیتونو د مرکز په توګه پیژندل کیږي .
ددې میتودونو یوه ځانګړتیا داده چې په تدریس کې یواځې ښوونکي خبري کوي ، خو زده کوونکي چپ او ارامه ناست وي اود ښوونکي خواته ګوري او په آرامه غوږ ورته نیسي . ددې میتودونو پکارولو سره ښوونکی په یوه اړخیزه توګه درس ورکوي او زده کوونکي په درسي بهیر کې د ننداره چي په حیث غیر فعال ناست وي. ددې میتودونو په کارولو سره زده کوونکي په غیر فعاله توګه زده کړه کوي ددې میتودونو او اصولو له مخې پخوا به داسي فکر کیده چې ښایي په درسي چاپیریال کي د ښوونکي یواځنې دنده داده چې درسي مفهومونه او مطلبونه زده کوونکو ته ولیږدوي او د ټولګی فضا ارمه وساتي ددې اصولو له مخې ښوونکي به هیڅکله د زده کوونکو استعدادونه ،شخصیت او ددوی د ژوندانه اړتیاوو او غوښتنو ته ارزښت نه ورکاوه او له زده کوونکو سره به دیو حاکم او مامور یا محکوم په خیر اړیکې وي . د ښوونکي له نظره به ډیر با استعداده او پوه زده کوونکی هغه وو چې په درسي بهیر کې د ټولګي په کونج کښې غلی او ارامه ناست او ډیرې لږې خبرې به یې کولې .

په درسي بهیر کې ددې میتودونو ځانګړتیاوې دادي :
۱.ښوونکی په هر څه پوهیږي ،خو زده کوونکي په هیڅ نه پوهیږي .
۲.ښوونکی خبرې کوي او زده کوونکی په څیر ورته ګوري .
۳.ښوونکی هر درسي فعالیت په خپله خوښه ټاکي او خپلې غوښتنې او ټاکي او خپلې غوښتنې او ټاکنې پلې کوي او زده کوونکې یې مني .
۴.ښوونکی په خپله د زده کړې د بهیر عوامل او فاعل دی خو زده کوونکي یواځې وسیلې او شیان دي .
۵.د ښوونکی په نظر د زده کوونکو ذهن د خالي لوخي په څیر وي چې باید ددوی له خوا ډک کړای شي.
۶.ښوونکی د پوهولو اوراپوهولو په ځای سپارښتنې ورکوي ، خو زده کوونکي پرته له څنډه مني ، پرته له فکره له عادت له مخې زده کړه کوي او حافظې ته یې سپاري او په دې ډول مطلبونه تکراروي .
۷.زده کړه په یوه اړخیزه توګه سرته رسیږي ، یواځې هغو زده کوونکو ته چې پیاوړې حافظې لري د زده کړې شرایط برابریږي اونورو زده کوونکو ته چې حافظې دومره قوي نه وي هغوی ته د فکر کولو بحث او مناقشه او په درسي موضوعاتو باندې د پوهیدلو وړ شرایط نه رامنځ کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب ـ** په زده کوونکومتمرکز یا نوې میتودنه :

د ښوونې او او روزنې داوسنیو نظریو او د تدریس د نویو میتودونو او اصولو له نظره د دریس په بهیر کې زده کوونکي ددرسي فعالیتونو د محور اومرکز په توګه پېژندل کیږي چې له خپلو ښوونکو سره اړوندې اړیکې لري . دا هغه میتودونه وي چې د درسي بهیر په فعالیتونو کې د ښوونکي پر ځای زده کوونکي ډیر فعال وي او ددرسي فعالیتونو د چورلیز او منځي په توګه پېژندل کېږي ددې میتودونو په کارول سره زیاتر ه په درسي فعالیتونو کې زده کوونکي برخه اخلي او ښوونکی د لارښود دنده سرته رسوي همداراز ددې میتودونو په کارولو سره زده کوونکو ته ګډې زده کړې(Participatory Learning ) شرایط برابریږي او ددې ځاني خپلواکې زده کړې ته چمتو او هڅول کیږي .

په زده کوونکو باندې متمرکز میتودنه زیاتر ه د لومړنیو زده کړو په درسی ټولګیو کې کارول کیږي چې د زده کړې په بهیر کې اغیزمنتوب یې ددې دورې ماشومانو ته ګټور دی ښوونکی باید ددې میتودونو په کارولو سره زده کوونکي ګډې او اشتراکي زده کړې ته وهڅوي او دوې ته دفعالې اوهدفمندې زده کړې وړ شرایط برابر کړي تر څو دوی وکولای شي په درسي مطلبونو او موضوعاتو باندې ژر فکر وکړي . په ډلیزه توګه د نورو سره یوځای په ګډه یوې واحدې پریکړې ته سره ورسیږي او خپلې پوهې او تجربې له نورو سره شریکې کړي .

په ګډه او اشتراکي زده کړه کې د ټولګي ټولو زده کوونکو ته په یوه موضوع یا مطلب باندې د فکر کولو ، قضاوت کولو او دلیل ویلو شرایط برابریږي او دوی کولای شي چې نه یواځې خپلې پوهې او تجربې نورو ته ولیږدوي بلکې دنورو د پوهې او تجربو څخه هم ګټه واخلي . هر ښوونکی باید دې خبره ته جدې پاملرنه وکړي چې اشتراکي او بامفهمه زده کړه د ماشومانو په ټولګیو په تیره بیا د لومړنیو د زده کوونکو په ټولګیو کې ضروري دي . ماشومان دروزنیزو ډلیزو لوبو او نورو ډلیزو درسي فعالیتونو له لارې آسانه زده کړه کوي او پدې ډول غواړي چې خپله ډله کې نورو ته ځان د خبرو کولو ، دلیل ویلو او سم قضاوت کولو له لارې وروپیژني. په ټولګیو کې دماشامانو فعالول او دوی ته دسم فکر کولو ، خبرې کولو او دلیل ویلو شرایط برابرول ډیرې ګټې لري چې باید ددرس په بهیر کې په پام کې ونیول شي .

لنډه داچې په زده کوونکو باندې متمرکز او یا نویو درسي میتودونو ښیګڼې او ځانګړتیاوې دادي:

۱.ښوونکی ددې میتودنو د کارولو په تر ځ کې د لارښود دنده پر غاړه لري او زده کوونکي د درس په بهیر کې خپل معلومات لیږدوي او خپل فکرونه اونظریې څرګنده وي .

۲.دتدریس بهیر ځانګړې عملي بڼه لري او د زده کړې د موضوع په پوهیدلو او پلي کولو باندې زور اچول کیږي او ددرسي موضوعاتو حفظ کول په دویم پړاو کې ځای نیسي .

۳.د ښونکی درسي بهیر دعلمي فعالیتونو ، تصویرونو اونورو فعاله ډلیزو فعالیتونو پر بنسټ پرمخ ځي او زده کوونکي په فعاله توګه په درس کې برخه اخلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴.ښوونکی خپل درس ددرسي پلان له مخې پلی کوي او ددرس په بهير کې له درسي مرستندويه موادو څخه ګټه اخلي.
۵.د زده کوونکو ترمينځ ددرس په بهير کې د موضوعاګانو په اړه يو او بل ته د فکرونو ،نظريو او تجربو د ليږدولو په زړه پورې چاپيريال رامينځ ته کيږي .
۶.زده کړه مانا داره ، هدفمنده او اشتراکي ګرځي .
۷.زده کوونکي د تدريس په بهير کې فعال وي او درسي فعاليتونه له خپلې خوښې سره سم په شوق سره سرته رسوي .
۸.ګوښه ګير او کمزوريو زده کوونکو ته په خپله ډله کې د نظر دبيانولو ، خبرې کولو او نورو ته د ځان پيژندلو وړ شرايط برابريږي .

د يادولو وړ ده چې تدريس خورا زيات ميتودونه لري . چې ښوونکی له هغې څخه ددرسي بهير د پياوړتيا او اغيزمنتوب له پاره ګټه اخلي خوکوم ميتودونه چې ښوونکی کولای شي چې ددرس په بيلا بيلو پړاوونو کې د زده کوونکو د هدفمندی او مانا داره زده کړې له پاره ورڅخه کاروخلي په لاندې ډول دي :

۱.د وينا يا لکچر ميتود ( Lecture Method)
۲.د سوال او ځواب ميتود ( Question and Answer Method)
۳.مباحثې يا مناقشې ميتود ( Discussion Method)
۴.انکشافې ميتود ( Discovery Method)
۵.عملي يانمايشي ميتود ( Demonstration Method)
۶.تکراراو تمرين ميتود ( Repeat ion and Producing Method)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوینا یا لکچر میتود ( Lecture Method )

د یوې درسي موضوع تشریح کول د ښوونکي د تکړه توبونو (مهارتونو) او مسلکي پوهې یوه مهمه برخه ده . هر ښوونکی باید پرخپل درسي مضمون یا درسي موضوع باندې په بشپړه توګه برلاسی وي .
د وینا یا لکچر میتود کارول داسې وي چې ښوونکی د ټولګي مخې ته دریږي اودرسي موضوع په لنډه توګه زده کوونکو ته تشریح کوي او دزده کوونکو سره په ګډه پرې غږیږي .
دا میتود په هغه وخت اغیزمن بهیر وګڼل شي چې ښوونکی ددرس لومړني او بنسټیزې مسلې او موضوعګانې تشریح کړي او ددرسي بهیر نور فعالیتونه زده کوونکو نه پریږدي چې ددرس د موضوع په اړه فکر او خبرې پرې وکړي او خپلې نظریې او تجربې یو او بل ته دلیږدوي . د هر درس دتدریس لپاره درې پړاوونه ټاکل شوي دي :

**الف -** ددرس لپاره د چمتوالي پړاو.

**ب -** ددرس په موضوع باندې د کار کولو پړاو .

**ج -** دددرس لنډیز ، پایله او ارزونه .

د لکچر له میتود څخه د زیاتره دلوړوزده کړو په درسي ټولګیو کې کار اخیستل کیږي ، ځکه چې ښوونکی باید په لږ وخت کې ډیر درسي معلومات زده کوونکو ته زده کړي او ولیږیدي.
د وینا یا لکچر میتود په کارولو کې ښوونکی باید لاندې ټکوته پام کې ونیسي :
۱.د زده کوونکو د پوهې او سوېې سره سم خبرې وکړي ، په خبرو کې ددرس په موضوع څخه لیرې لاړ نشي او په بیځایه خبرو او تشریحاتو وخت تیر نه کړي .
۲.ددرس په بهیر کې خپلې بنسټیزې دندې وپیژني او ددرس د هدفونو په پام کې نیولو سره خبرې وکړي .
۳.ددرس په موضوع باندې ترهغه زیات وپوهیږي چې په درسي متن کې راغلي وي .
۴.دلکچر پر مهال د ټولګي زده کوونکي له پامه ونه غورځوي او دوی ته دنظریو د څرګندولو اوخبرې کولو چاپیریال برابر کړي .
۵.د زده کوونکو نظریې او تجربې دې له خپلې تشریح سره یوځای کړي ، خبرې او فعالیتونه دې زده کوونکو ته پریږدي .
۶.ددرسي موضوع هره برخه چې ډیر ارزښت لري په هماغه مطلب او موضوع باندې خبرې وکړي او سم یې تشریح کړي .
۷.ددرس د تشریح پرمهال ځای پر ځای ونه دریږي بلکې خپل ځایونه دې بدل کړي څو چې د ټولوزده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکو سره يې اړيکې ټينګې شي . غږ يې کله جګ کله ټيټ يا نرم وي په څرګند ډول واوريدل شي ددرس په بهير کې دښوونکو اشارې ، کنايې او حرکتونه کولای شي چې تشريح ژوندی وساتي او درس زده کوونکو ته د لچسپه کړي .

۹.لنډې خبرې وکړي اوزياتې خبرې دې زده کوونکو ته پريږدي چې په داسې موضوعګانو بحث اومناقشه وکړي ترڅو د خبرې کولو ، نظريو څرګندولو او فکر کولو په زړه پورې چاپيريال برابر شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسوال او ځواب میتود ( Question and Answer Method)

سوال او ځواب نه یوازې دارزیابي یوه غوره ، لاره ده بلکې په درسي بهیر کې د ښوونکو لپاره ډېر اغیزمن او ګټور درسي میتود هم دی . ښوونکي کولای شي ددرسي بهیر په پولو پړاوونو او فعالیتونو کې ترې ګټه واخلي .

ښایې چې دتدریس پر مهال ځینې زده کوونکي د ښوونکو په خبرو یامطلب پوه نه شي اوددرس مطلب او مفهوم ورته مبهم او پیچلی پاتې وي ، په دې ډول په درسي مطلب او مفهوم باندې پوهیدل اوددرس د موضوع په اړه پوره معلومات تر لاسه کول د سوال او ځواب دمیتود په کارولو سره ډېر ښه تر سره کیدای شي . دا خبر ه هم په پام کې ونیول شي چې سوال باید لنډ او روښانه وي تر څو چې دزده کوونکي دځواب ورکولو پرمهال دوخت د ضایع کیدو او نورو حاشیه له دیو څخه ډډه وکړي .

*د سوال او ځواب میتود ښګیڼې*

۱.زده کوونکو ته د مفاهیمو او مطالبو د لیک په لړکې څه شی مبهم نه پاتې کیږی.
۲.د پخوانیو نیمګړیو او ناسمو معلوماتو د بشپړولو او تصحیح امکان مسیر کیږي .
۳.له هغو ځوابونو څخه چې د پوښتونکو (ښوونکو) سوالونو ته ورکول کیږي د ټولګي نور زده کوونکي ترې ګټه اخلي اود خپلو معلوماتو لمن پرې پراخوي .
۴.د زده کوونکو د جرت احساس پیاوړی کیږي اونورو زده کړو ته یې هڅوي او په دی توګه په دوی کې د فکر کولو او دلیل ویلو توان غښتلی کیږي .
۵.په درسي بهیر کې هر زده کوونکي ته د ګډې زده کړې چاپیریال برابریږي او په دې توګه بې پروا ، بې علاقې او بې جراته زده کوونکي په کار لویږي او په درس کې برخه اخلي .
۶.ښوونکو ته د زده کوونکو د زده کړې پرمختګ قدم په قدم څرګندیږي .
۷.ښوونکي ته دزده کوونکو استعدادونه څرګندیږي اود کمزوره زده کوونکو ددرسي ستونزو لپاره د حل لارې چارې پیداکیږي او په دې توګه ښوونکی خپل درس آسانه کوي .
۸.د زده کونکو د بیان او افادې مهارتونه پیاوړي کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹.زده کوونکو ته سوال کول او ځواب ورکولو ، ادب او لارې چارې څرګندېږي اوپدې پوهیږی چې څه وخت پوښتنه وکړي اوکوم وخت څه ډول ځواب ورکړي .

## د سوال کولو لارې چارې

د سوال کولو په مهال باید لاندې سپارښتنې په پام کې ونیول شي :

۱.سوال باید داسې مطرح نه شې چې ځواب یې «هو» یا «نه » وي . سوال باید زده کوونکي فکر کولو ته وهڅوي .

۲.سوال باید ځانګړی هدف تعقیب کړي او یا هدف وي .

۳.سوال باید د زده کوونکو د سویې ، پوهې اوعمر سره مناسب وي .

۴.سوال باید حفظي معلومات ونه سنجوي .

۵.سوال باید یوه پوښتنه ولري ، دیوه سوال په دننه کې ډېرې نورې بې اړیکې پوښتنې مطرح کول ښه کار نه دی.

۶.د سوال څخه وروسته زده کوونکوته باید دفکر کولو وخت ورکړی شي چې ځواب ووایي .

۷.په سوال باید ځواب نغښتی نه وي اویا سوال باید پخپله ځواب نه وي .

۸.هڅه باید وشي چې ټول زده کوونکي د سوالونو په ځوابونو کې برخه واخلي .

۹.زده کوونکي باید د ښوونکي له خوا ځواب ویلو او پوښتنو کولو لپاره وهڅول شي او زده کوونکو ته ډاډ ورکړ شي چې دهر چا پوښتنه په خپل ځای کې د ارزښت وړ ده .

۱۰.که سوال بیاهم پیچلی وي دهغې په اړه ډېر مثالونه ور کړ شي ، یاکه چیر ځوابونه جامع او هر اړخیز ځواب ولري او دزده کوونکو له پاره ددرک او هغه وړ نه وي نو هغه سوال دې په څو برخو وویشل شي څو د برخه ایزو پوښتنو او ځوابونوپه ترڅ کې موضوع روښانه شي .

۱۱.ښوونکي د زده کوونکو د ځوابونو پر مهال باید بې تفاوته پاتې نه شي ، زده کوونکي باید وپوهیږي چې ځواب یې سم وي یا ناسم .

۱۲.ښوونکی باید دزده کوونکو د پرلپسې یازیاتو سوالونو په برخه کې بې حوصلې نه شي ، بلکې هغه زده کوونکي چې زیاتې پوښتنې کوي او ځوابونه وایې تقدیر شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مباحثې یامناقشې میتود Discussion Method

دسوال او ځواب او مباحثې میتود ترمنځ نژدې اړیکې موجودې دي .
په مباحثه کښې داستدلال د نظریو د لیږدولو له لارې زده کوونکي په درسي بهیر کښې فعال ساتل کیږي او په دې ډول ټولو زده کوونکو ته ددرسي ټاکلي موضوعگانو په آړه د خبرې کولو او د نظریود اظهارولو او څرگندولو په زړه پورې شرایط برابر وي .
د مباحثې اومناقشې د میتود لارېد ټولگي اکثرو زده کوونکو ته ډیر معلومات ورکول کیږي او دوی پخپله د بحث او مناقشې د فعالو غړو په توگه د فعالیتونو د چورلیز(مرکز ) په توگه په درسي موضوع باندې کارکوي او خپلې پوهې او معلومات یو او بل ته لیږدوي.
ددې میتود په کارولو سره زیاتره ښوونکي د بحث د لارښوونې دنده پرغاړه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دلوست پلان

ښوونځی :------------ موضوع:---------

ټولګی:------------- ساعت:-------

ښوونکی:------------- د زده کوونکوشمیر:--

مضون :------------- وخت او نیټه:----

| هدفونه | درسي مواد او میتودونه | د لوست د تطبیق مرحلې او فعالیتونه | ارزیابي نتیجه او کورنۍ دنده | د پلان تغیر او وړاندیزونه |
|---|---|---|---|---|
| الف: اصلي یا اساسي هدف: د خدای(ج) رضا حاصلول ب: عمومي هدفونه: د ژبې د ځلورو وده او انکشاف اوریدل ، خبرې کول ، لوستل او لیکل ج: خصوصي هدفونه : د شاګردانو پوهیدل د قران شریف په مفهوم باندې او شاګردان وکولای شي چې نوموړی درس ولولي او ویې لیکي | الف: تخته ،تخته پاک .تباشیر ، کتاب ،تصویر ،چارټ ،فلش کارټ ،فلیزي تخته ، ب: درسي اصول او میتودونه ، نمایشي میتودونه ،سمعي او بصري میتودونه ،سوال او ځواب میتود ، ګروه یې میتود | الف: لوست پیل د سلام په اچول ټولګي ته داخلیدل ، د احوال پوښتنه کول ، د ټولګي تنظیم ، د کورنۍ دندې کتل ، د حاضرۍ اخیستل . د تیر درس ارزیابي : د نوي او زوړ درس ترمینځ پیدا کول او د نوي درس لپاره انګیزه تولیدول ب: د نوي د رس قدمونه او فعالیتونه د ښوونکي او زده کوونکي له خوا . د نوي درس عنوان ،د توري تختې پر مخ لیکل او نوي درس د (بسم الله الرحمن الرحیم) په ویلو شروع کول . د ښوونکي په واسطه سره درس د چارټ له مخې لوستل او بیا په شاګردانو تکرارول بیا د کتاب له مخې لوستل بیا په شاګردانو باندې د فلش کارټونو استعمال او ګروه یې فعالیت د هغې په واسطې سره اجراً کول ، د کوچنیو کارتونو استعمال د فلالین په تخته باندې او په شاګردانو باندې په توره تخته لیکل | الف: دنوي درس ارزیابي قرانکریم د چا کتاب دی ؟ قرانکریم د چا په واسطه سره په حضرت محمد «ص» نازل شوی دی ؟ ب: دلوست نتیجه ج: کورنۍ دنده نوموړی درس په کورکې ولول اودوه ځله یې په کتابچو کې ولیکي | الف: د پلان تغیر ب: مشکلات ج: غوښتنې او وړاندیزونه د نوي او راتلونکي لوست لپاره |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخو د زده کوونکو تر مينځ د بحث موضوع اوږده نشي او بحث له خپلې اصلي موضوع بل خواته لاړ نشي او وخت په نورو خبرو ضايع نشي .
د پام وړ ده چې هر مباحثه له يوې پوښتنې پيل او زده کوونکی د ځواب د پيداکولو له پاره ځانګړې پريکړې او پايلې ته سره رسيږي .
ښايې زده کوونکي کله کله مباحثه د انحراف لوري ته بوځي خو دا د ښوونکي د نده ده چې بيرته يې خپلې اصلي لارې ته راولي او پرې نه ږدي چې بحث او مناقشه له خپلې اصلي موضوع حارج او خت په بيهوده خبرو تيرشي .
د ا ميتود په عادي حالاتو کې نظرنورو ميتودونو ته ډير وخت ته اړتيا لري نو ځکه ښوونکی بايد دې خبرې ته پام وکړي او ټولې ستونزې مخکې له مخکې په خپل درسي پلان کې په نظر کې ونيسي.
دمباحثې اومناقشې ميتود د تدريس ديو غوره ميتود په توګه د زده کړې د بهير د پياوړتيا لپاره ډيرې ګټې لري چې ځويې دادي:
١.په ټولګې کې د زده کوونکو او ښوونکو معلومات ، له دواړو خواوو څخه د تجربو د زياتوالي له لارې اضافه کيږي .
٢.له درسي چاپيريال ، درسي موضوعګانو او د ټولګي د زده کوونکو د تجربو له لارې معلومات سره را ټوليږي .
٣.زده کوونکي په درسي موضوع باندې د فکر کولو او دليل ويلو له پاره هڅول کيږي او ټولو زده کوونکو ته د ګډې د زده کړې چاپيريال برابريږي .
۴.په درسي موضوع باندې د زده کوونکو ژوره پوهه او معلومات ارزيابي کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دلوست دپلان فورمه

ښوونځی:--------- موضوع:--------
ټولګی:---------- ساعت:---------
ښوونکی:--------- د زده کوونکو شمیر:-
مضون:---------- وخت او نیټه :-----

| هدفونه | درسي مواد او میتودونه | د لوست د تطبیق مرحلې او فعالیتونه | ارزیابي نتیجه او کورنۍ دنده | د پلان تغیر او وړاندیزونه |
|---|---|---|---|---|
| ۱.اصلي اواساسي هدف:<br><br>۲.مضمون عمومي هدف:<br><br>۳.دلوست خصوصي هدف ؛ | ۱.درسي مواد او لوازم<br>.<br>.<br>.<br>۲.د تدریس میتودونه او لاري چاري<br>.<br>.<br>. | الف: د نوي لوست د پیل نه مخکې : د سلام اچولو نه وروسته د زده کوونکو سره احوال پوښتنه د ټولګي تنظیم او حاضري اخستل .کورنۍ دنده کتل .د تیر لوست پوښتنه د نوي او تیر درس ترمینځ اړیکې .د نوي لوست معرفي کول د یوې انګیزې<br>د قصې یا پوښتنې پواسطه دنوي لوست د پیل:<br>ب:.د تدریس عملي جریان ( دنوي لوست قدمونه او فعالیتونه )<br>د ښوونکي فعالیتونه دزده کوونکی فعلیتونه<br>۱. ۱.<br>۲. ۲. | ۱.ارزیابي<br>.<br>.<br>.<br>۲.نتیجه<br><br>۳.کورنۍ دنده | ۱.مشکلات<br><br>۲.<br>وړاندیزونه<br>.<br>.<br>. |
| | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵.ځينې موضوع ګانې چې ددرسي پروګرام په محتوی کې نه وي راغلي په هغو موضوعګانو او مطلبونو باندې بحث کيږي ، او په دې ډول دبحث په موضوع په اړه دټولو زده کوونکو پوهه ، نظريې او تجربې څرګنديږي او د موضوع د اغيز منتوب په اړه نوي معلومات سره راټوليږي .
۶.د زده کوونکو ترمينځ ټولنيزې اړيکې ټينګيږي او په ټولګي کې د زه کوونکو لپاره د نظر د څرګندولو لارې چارې څرګنديږي او پدې توګه زده کوونکي په ټولګي کې د نظم اودسپلين په ارزښت او مانا پوهيږي .
۷.وروسته پاتې او ګوښه ګيرو زده کوونکو ته د تدريس په بهيرکې د برخې اخستيې چانس رامينځ ته کيږي .
۸.په ډله کې د خبرو کولو په آداب او نزاکت پوهيږي او دخبرو اونظريو له لارې خپل ځانونه يو او بل ته ورپيژنې .
۹.د ټولګي د زده کوونکو ترمينځ پر ځان د باور احساس پياوړی کيږي او په دې توګه په دوې کې د بيان دافادې توان غښتلی کيږي .
لنډه داچې په يو موضوع باندې مباحثه دټولو زده کوونکو د نظريو ګډ بيان اوددې نظريو او مشورو کوټلې پايله ده . هره مباحثه بايد پای ولري او ځانګړې پريکړه او پايله ترې راووځي.
د پام وړ ده چې دمباحثې او مناقشې د کارولو يوه غوره لاره په ټولګي کې د يوې او ياډيرو موضوعګانواپه ړه د زده کوونکو ترمينځ د ډله ايزو او ګروپي کارونو په جوړولو سره ترسره کيږي ډله ايزاوګروپي فعاليتونه چې د بحث اومناقشې د ميتود په کارولو سره ترسره کيږي د ماشومانو د تولګيو له پاره خورا ارزښت لري . دوی په ګروپونو کې د فعالې زده کړې لپاره چمتو کيږي او هر ماشوم ته په درس کې د برخې اخيستنې مثبت او مطلوب شرايط برابريږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انکشافی میتود Discovery Method

اکتشاف په لغت کې د يو شي پيدا کولو ، کشفولو او لار موندلو ته وايې .
د تدريس انكشافي ميتود هم هغه منطقي لاره ده چې ښوونکی دهغې په مرسته کولای شي چې زده کوونکي ديته اړ کړي چې واقيعتونه او موضوعګانې پخپله وپيژني ، هغې ته پراختيا ورکړي او په پای کې ورڅخه نتيجه ګيري هم وکړي .
ددې ميتود ښه والی دادی چې دښوونکي پرځای پخپله دټولګي ماشومان ددرس په بهير کې فعال وي ، فکر کولو ته هڅيږي او دمسلو له پاره د حل لارې او چارې لټوي . ښوونکی ددې ميتود په کارولو سره هم دلارښود دنده لري او زده کوونکو ته د درس په هره برخه کې د فکر کولو او دنظريو د څرګندولو وړ شرايط چمتو کوي .
ددې متيود دکارولو لارې چارې دادي چې ښوونکی بايد حتما د زده کړې داسې حالت رامينځته کړي چې زده کوونکي د زده کړې په بهير کې له يوې پوښتنې او پرابلم سره مخامخ شي . دلته د پرابلم مانادادہ چې زده کوونکي دې د يوې پوښتنې په اړه فکر کولو ته وهڅول شي چې دمسلې سم ځواب روااباسي .
پوښتنې بايد دزده کوونکو د ذهني تکړه توبونو (مهارتونو) او سويې په پام کې نيولو سره مطرح شي ، تر څو چې هغوی د پوښتنې په تشريح او تحليل پيل وکړي . زده کوونکي بايد ددې توان ولري چې دزده کړې فرضيې دله بندي کړي . د همدغو فرضو له مخې بايد خپل ځان وازمايي او داسې نتيجه ګيري وکړي چې په همدغو ازموينو ولاړ ه وي .
ښوونکی ددې ميتود په کارولو کې د لارښود او مشاور په توګه کار کوي . زده کوونکو ته د مسلو د حل لارې پشنهاد وي . داسې پوښتنې کوي چې هغوی د هڅول شي او دمسلو د حل لارې دوی پخپله پيدا کړي .
په اکتشافي ميتود کې زياتره د مقايسوي حالتونو څخه ګټه اخيستل کيږي .
مقايسوي حالتونه دادي چې زده کوونکي ديو لړ حالاتو يامسلو سره مخامخ کيږي . بيا ورڅخه پوښتل کيږي چې ددې حالاتواو مسلو په اړه فکر وکړي اود مسلو ترمينځ ورته والی ولټوي .
لنډه دا چې ښوونکی کولای شي د اکتشافي ميتود په کارولوسره د لومړنيو ټولګيو زده کوونکي د هڅوي چې دموضوعګانو په اړه ددی خپله فکر وکړي او دخپل ذهنونه او فکرونه په فعاله توګه په کارو اچوي .
دې ميتود ته ځينې وخت دمسلې د حل دلارو ميتود هم وايې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عملي يا نمايشي ميتود Demonstration Method

د شيانو نمايش يا ښودل زياتره د کتنې او مشاهدې پر بنسټ تر سره کيږي .
جوته خبره ده چې کوچنيانو د يو شي په ليدلو او کتلو سره ځانګړي تکړه توبونه (مهارتونه) لاس ته راوړي.
ددې ميتود له لارې لومړی يو ښوونکی يو کار او فعاليت په عملي ډول زده کوونکو ته وړاندې کوي ، بيا هماغه کار او فعاليت زده کوونکي په ځانګړي توګه کوم چې يې ليدلی يا ښودل شوی تکراروي او سرته يې رسوي . ددې ميتود غوره والی دادی چې ښوونکی کولای شي ډيرو زده کوونکوته په لنډه موده کې زيات مهارتونه ، معلومات او تجربې وليږدوي اودوی ته ددرس بنسټيزې موضوعګانې ورزده کړي .
ددې ميتود په کارولو سره ښوونکی د زده کړې بهير د حقيقي شيانو تصويرونو ، کارډونو او ماډلو له لارې پرمخ وړي . ځکه نو هغه زده کړه او پوهه چې ددې ميتود له لارې زده کوونکو ته ليږدول کيږي ددوی په ذهن کې تل پاتې او ژوندې وي .
د ښوونې او روزنې ځينې پوهان پدې نظر دي چې:
او ريدل هيريدل دي : ليدل زده کول دي او عمل کول پوهيدل دي .
د پورتنيو ځانګړتياو په پام کې نيولو سره اوس دا خبره روښانه شوې چې دتدريس نمايش اوعملي ميتود په ټولګي کې دزده کړېد بهير يوه غوره ميتود دی . ددې ميتود په کارولو سره زده کوونکي فعاله او اغيزمنه زده کړه لاس ته راوړي او کولای شي چې زده شوی مطلب د عمل په ډګر کې پلی کړي او مطلوبې نتيجې ترې اخلي.

عملي يا نمايشي ميتود لاندې څلور پړاونه لري چې دتدريس په بهير کې بايد په پام کې ونيول شي :

**الف** : د چمتوالي پړاو

**ب** : د تشريح ورکولو پړاو

**ج** : د ښودلو پړاو

**د** : د ازمايښت يا ارزيابۍ پړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library

*د چمتوالي پړاو :الف*

ددې پړاو څخه مطلب دادی چې ښوونکی باید دتدریس نه وړاندې دنمایش یا ښودلو سامان الات مخکې له مخکې د ټولګي مخې ته چمتو کړي او په ټاکلو ځایونو کې یې کېږدي . دتدریس نه وړاندې باید دغه الات اووسایل وازمایې او چک یې کړي چې سم کار وکړي . جوته خبره ده چې یو ښوونکي ته عصبي ستونزه هغه وخت پیداکیږي او کار یې له ګډوډیو سره مخامخیږي چې دښولو وسیله یا اله یا ماډل سم کار ونه کړي . ښوونکی د تدریس  په بهیرکې ددې میتود د کار ټول ضروري شیان باید مخکې له مخکې چک او دښودلو لپاره یې په منظم ډول د ټولګي په وړاندې دمیز په سر کیږدي ، ترڅو چې ددرس په وخت کې پرته له ځنډه هر شي په آسانۍ سره واخلي او دتدریس په بهیر یې له ستونزو سره مخامخ نه شي .

*ب : د تشریح پړاو :*

په دې پړاو کې ښوونکی د ښودلو شیان زده کوونکو ته د ماډلونو ، تصویرونه کارډونو او چارټونو په مرسته وړاندې کوي او ورپسې ددغو شیانو په اړه تشریحات او توضیحات ورکوي . ښوونکی باید په پام کې ولري چې د ښوونو او یا نمایش ورکولو شیانو د کارولو په اړه تشریحات په منظمه توګه او ساده جملو کې ترسره شي او دهرې برخې د تشریح کولو پر مهال او زده کوونکو څخه پوښتنې وشي اودوی ته وخت ورکړل شي چې د شیانو او فعالیتونو په اړه معلومات ورکړي .
د عملي یانمایشي دا پړاو ډیرمهم دی ځکه چې بنسټیز شیان چې د زده کړې د بهیر د پیاوړتیا او زده کوونکو په ذهن کې د مفهومونو د ژوندي ساتلو له پاره کارول کیږي باید سم تشریح شي ترڅو چې زده کوونکي پرموضوع باندې سم وپوهیږي او وروسته یې بیا په عملي توګه تر سره کړای شي .
هر ښوونکی باید د هري لنډې تشریح وروسته له زده کوونکو څخه هم معلومات او توضیحات وغواړي تر څو چې زده کوونکي ته هم د فعالې او ګډې زده کړې شرایط برابر شي او زده کوونکي په درس کې فعاله برخه واخلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج : د نمای‌ش ی‌ا ښودلو پړاو

په دې پړاو کې ښوونکي د موضوع د تشريح څخه وروسته ځینې شیان په عملي یا نمایشي توګه زده کوونکو ته ښايي . ښوونکی چې دعملي فعالیتونو په بهیر کې چې دډول ډول وسیلو او الاتو له لارې تر سره کیږي د زده کړې د فعالیت هره برخه په زده کوونکو باندې هم عملي کړي تر څو زده کوونکي دوه اړخیزه شي او فعالیتونه یواځې ښوونکی پورې محدود پاتې نه شي . جوته خبره ده چې د موضوع پیښې د تشریح څخه وروسته او بیا په موضوع او پیښه په نمایشي او عملي توګه زده کوونکو ته وړاندې کول د اغیزمنې او دوامدارې زده کړې لپاره خورا مهم کار دی .
د ښودلو یا نمایش ورکولو پر مهال ښوونکی باید زیار وباسي چې دهر زده کوونکي پوښتنو ته سم ځوابونه ووايي ، همدارنګه په هره برخه کې ښوونکی د ډول ډول پوښتنو له لارې د ټولګي ټول زده کوونکي په درسي بهیر کې شامل او ددوی لپاره په درس کې د فعالې برخې اخیستنې په زړه پورې چاپیریال برابر کړي .

## د:د ازمای‌ښت پړاو

هر ښوونکی باید دتشریح او ښودولو پړاونو څخه وروسته ټول کارونه او فعالیتونه چې سرته رسولي په زده کوونکو باندې تکرار کړي او له دوی نه په هره برخه کې توضیحات او معلومات وغواړي او په توګه خپل درس وازمايي ، که چیرې په کومه برخه کې زده کوونکي ستونزې ولري بیا دی موضوع تکرار او وروسته دی په دوی باندې عملي کړي تر څو دموضوع په مطلب باندې سم پوه شي .
دی ښوونکی ( Role play ) د یادولو وړ ده چې دعملي نمایشي میتود ډیر غوره لاره د نقش لوبولو کولای شي د نقش د لوبولو میتود څخه په درسي بهیر کې ګټه واخلي ددې میتود په مرسته یوه موضوع یا یوه پیښه د څو تنو لوبغاړو له خوا په عملي توګه ښودل کیږي ددې کار اغیزمنتوب دادي چې دزده ترمنځ د موضوع یا پیښې په اړه عاطفي اړیکې ټینګیږي او زده کوونکي دموضوع یا کوونکو او لوبغاړو . پیښې دتمثلولو پرمهال ځان په هماغه صحنه کې احساسوي او ژور فکرورباندې کوي
همدارنګه ددې میتود بل ښه والی دادې چې دزده کوونکی د ژورې مطالعې او کتنې له لارې د موضوع یا پیښې ته پاملرنه کوي چې په دې توګه بې مطلب تر ډیرې مودې پورې په فکر او ذهن کې ژوندی پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي او د موضوع څخه مثبته نتیجه اخلي له بلې خوا دنقش په لوبولو کې زده کوونکي خپلې قواوې په تیره بیا خپل حواس په موضوع یا پیښې باندې متمرکز کوي او په پایله کې په موضوع باندې په واقعي او عیني ډول پوهیږي اود موضوع په اړه یې پوه او معلومات پیاوړي کیږي .

ښوونکی کولای شي درياضي په مضمون کې په زده کوونکو باندې د دوکاندار تمثلي لوبه ترسره کړي او پدې باندې د رياضي د جمعي ، منفي ، ضرب او تقسیم عملې بشپړې کړي او په عملي توګه یې په دې مفهمونو باندې وپوهوي .

د نقش دلوبولو د سرته درسولو له پاره باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي :

۱.دنمایش دلوبولو له پاره ټاکلې موضوع په نمایشي ډول لیکل

دنمایش یا نقش لوبولود موضوع لپاره وسایل ،لوازم او شرایط برابرول -۲

۳.په نمایش کې د لوبغاړو ونډې او نقشونه ښکاره کول او موضوع پدوې باندې تمرین کول

۴.هر لوبغاړي ته ددوې دسویې په مطابق برخه ورکول

۵.دنمایش څخه مخکې زده کوونکو ته دنمایش هدفونه بیانول او دوی ته دموضوع په اړه لنډه معلومات ورکول

۶.د نمایش څخه وروسته دنمایش هدف اوموضوع په اړه بحث ، نتیجه ګیري او ارزیابي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمرین او تکرار میتود

# Repeat ion and practicing Method

تمرین د زده کړې د بهیر اود زده کړې د تعمیم او تطبیق له پاره یو اغیز من میتود دی . له ډیرې مودې راهیسې له دې میتود څخه کار اخیستل کیږي . ښوونکی دتمرین اوتکرار په مرسته د زده کړې مطلبونه اومفهمونه د زده کوونکو په ذهن کې بیا له سره پیاوړي کوي او دغه زده شوي مطلبونه او مفهمونه د زده کوونکو په ذهن کې تل پاتې ساتي چې کولای شي چې په عملي ډگر کې ورڅخه پوره گټه واخلي.
تمرین بیلا بیل ډولونه لري چې ځینې یې دادي.

الف :ـ حفظي تمرین :

دا یو ډول طوطي وار یا بلبل واد تمرین دی یوازې دیوه شي د حفظ کولو له پاره سرته رسیږي چې پکې د تفکر او تعقل ونډه ډیره لږه ده . په عنعنوي ډول د ضرب جدول زده کړه یو ډول تکراري یا حفظي تمرین دی . په دې ډول تمرین کې زده کوونکي یو مطلب له ډیرې محدودې مانا سره تکرار په زور ذهن ته سپاري او اصلي مطلب او مقصد ته دومره پام نه کوي .
مثلاً یو زده کوونکی ممکن دنیل دسیند اوږدوالی په تکراري ډول حافظې ته وسپاري ، خو په دې خبره ونه پوهیږي چې دنیل سیند چیرته دی ؟ مصر په کومه لویه وچه کې پروت دی ؟ د مصریانو په اقتصادي ژوند کې دنیل درود ونډه څومره ده ؟ او داسې نور .

ب: استنباطي تمرین:

دا تمرین له علاقې استدلال مباحثې او د نویو نویو مفهومونو او موقیعتونو له کارولو سره اړه لري. سره له دې چې د تکرار ونډه په استنباطي میتود کې هم شته ، خو دغه تکرار یوه بڼه نه لري. دغه تمرینونه یو له بل سره په توپیر کې د یوې موضوع یا مفهوم په شا او خوا راڅرخي ، کوم تمرینونه ، چې د هندسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قضیو په اړه تر سره کیږي او همدا راز هغه مسایل چې زده کوونکي یې پر قضیو او دلایلو باندې تر پوهېدلو وروسته حلوي ، استنباطي تمرینونه دي.

ج: مرور

دا تمرین په هغو مطلبونو باندې د پوهې د پیاوړي کولو لپاره تر سره کیږي ، چې مخکې زده شوي او یا درس ورکول شوی وي ، مرور تل د خلاصه کولو یا د کره کولو ، ترسیمولو او طرحه کولو تکړه توبونو (مهارتونه) سره غاړه وي ، په یو درسي موضوع یا مطلب بیا له سره مرور کول په ذهن او عمل کې د موضوع او مطلب د بیا ژوندي کولو او تازه کولو په مانا ده ، د مرور په مرسته زده کوونکي کولای شي ، چې د درس ځینې برخې چې هېرې شوې وي ، بیا له سره پرې وپوهېږي او پوهه په ذهن او عمل کې تلپاتې وګرځوي.

د: عملي کولو تمرین:

دا د خوځنده (حرکتي) او تخکنیکي تکړه توبونو (مهارتونو) د حاصلولو لپاره سرته رسیږي ، ورزشي تمرینونه او د کسبي او حرفوي تکړه توبونو د زده کړې تمرینونه ، عملي تمرینونه دي ، چې په ځانګړتیاوو باندې مخکې خبرې شوي دي.

ښوونکی باید د تمرین لاندې سپارښتنو ته پام وساتي

۱- زده کوونکي باید د تمرین اړوند هدفونه درک کړي او په دې وپوهېږي ، چې د څه لپاره تمرین سرته رسوي.

۲- د تمرین مهال باید ډېر او ستړی کوونکی نه وي او داسې نه شي ، چې یو ساعت تمرین په دوو ساعتونو کې اجرا شي.

۳- ښوونکی باید له هغو ښوونیزو مفهومونو او مقصدونو څخه خبر وي ، چې د ده د درس په برخه کې ارزښت لري ، د درس د ارزښت ښودنې لپاره زده کوونکو ته تر اندازې ډېر تمرینونه سپارل مناسب کار نه دی ، د تمرینونو حجم باید د زده کوونکو د اړتیاوو او سویې سره سمون ولري ، د درس د بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

غبرګولو یا ببرته ویلو په خاطر باید د مطلب له حفظ کولو څخه ډډه وشي ، یآنې حفظ کول باید هدف نه وي ، ځکه د یو مطلب حفظ کول تل د هغې د پوهېدلو په مانا نه ده ، خو که چېرې د یو مطلب او مفهوم حفظ کول د درس په هدفونو کې وي او د نورو مطلبونو له درک زده کړې او وربا‌ندې پوهېدلو سره مرسته وکړای شي ، نو بیا مجاز دی.

## د تدریس ځانګړي میتودونه:

دتدریس د عامو میتودونو ترڅنګ ، د تدریس ځانګړي میتودونه هم شته چې د هر مضمون د ځانګړنو سره سم په درسي بهیر کې کارول کیږ ي.
هر ښوونکی باید دتدریس دعامو میتودنو ترڅنګ د تدریس په ځانګړو میتودونو باندې هم و پوهیږي څو چې دزده کړې بهیر زده کوونکو ته اغیزمنه او ډاډمنه شي د ژبې په ځانګړي میتودونو باندې وپوهیږي .
او په دې ډول اسانه او بامفهومه درس زده کوونکو ته وړاندې کړي . په دې برخه کې یو د ژبې د تدریس میتود دی چې د ژبې د ښوونکو لپاره یې پوهیدنه لازمي او ضروري ده .

## د ژبې د تدریس میتود

ژبه د انسان په ټولنیز ژوند کې ستره ونډه لري اود هغه له کړو وړو مناظرو او فکر کولو سره غوټه شوې ده . ژبه د زده کړې لپاره هم ډیره مهمه ده .بې له ژبې څخه نه علم رامینځته کیدای شي ، نه څوک زده کړه کولای شي او نه هم د خپل ځان او نړۍ په هکله معلومات تر لاسه کولای شي .
د ژبې ښوونکی باید په دې وپوهیږي چې زده کړه څومره ارزښت او ګټه لري د ژبې د ښې ،اغیز ناکې او با مانا ښوونې لارې او اصول کوم دي تر څو دهغه زده کوونکي وکولای شي چې :

- په خپله ژبه په سمه تو ګه وغږیږي او اوریدونکی یې په خبرو وپوهیږي
- د خپلې ژبې د غږیدونکو په ژبه وپوهیږي .
- په خپله ژبه لیکلي آثار سم ولولي او په مانا یې پوه شي .
- په خپله درس سم لیکل وکړي چې خلک دده لیکنې ولولي او پرې پوه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پام وړ ده چې د ژبې په زده کړه کې څلور تکړه توبونه (مهارتونه ) نغښتي دی چې هغه دادي :
۱.داوریدلو (غوږ نیولو ) تکړه توب
۲.دغږیدلو یا خبرې کولو تکړه توب
۳.د لوستلو تکړه توب
۴.د لیکلو تکړه توب
د ا څلور ګوني تکړه توبونه (مهارتونه ) د ژبې د مهمو اساساتو څخه شمیرل کیږي .
د ژبې ښوونکي دنده لري چې نوموړو تکړه توبونه ته په ځانګړې توګه پاملرنه وکړي ، ترڅو یوښه او ریدونکی ، ویونکی ، لوستونکی او لیکونکی وروزو .

## الف :ـ د ژبې لومړی تـکړه توب اوریـدل :

اوریدل له غږ سره اړیکي لري . غږ په هوا کې د یو جسم له رپیدو ، اهتزاز څخه پیدا کیږي . کله چې یو جسم ورپول شي د هر جسم د چاپیریال هوا دمتحدالمرکزپه څپو کې خوځیږي اوداوریدونکی غوږونوته رسیږي . اوریدونکي غوږونه داوریدلو دحس عصبي مزو په واسطه دغه غږیزې څپې دهغه مغزوته لیږدوي او مغزه یې دهغه غږونو سره چې په کې ذخیره کړي دي تشخیص او پیژني دغه ټولی عملې ته اوریدل وایې.
یا اوریدله هغه غږونه چې فوري د صوتي غړو په واسطه تو لیدو او مونږ یې اوریدولو مهارت په واسطه احساس کوو دې ته اوریدل وایې .
یا په بل عبارت : هغه غږونه چې د صوتي جهاز په واسطه موږ ته رسیږي اوریدل یې بولي اورید ل د ژبې د څلورو تکړه توبونو څخه لومړی تکړه توب دی اودا تکړه توب د لومړي ځل لپاره د مور له غیږې څخه شروع کیږي .
څه وخت چې یو کوچنی ماشوم نوی نړۍ ته راشي نوموړ ورته په مختلفو لارو او طریقو سره خپله مورنۍ یا پلارنۍ مینه په اوازونو ، کلمو ، جملو او عبارتونو سره بیانوو . که څه هم په دې وخت کې کوچنی ماشوم په هیڅ نه پوهیږي ، خو سره له دې هم خپله لوږه ، تنده ، درد د ژړا په واسطه څرګندوي اوموریې پوهیږي چې دماشوم یې څه شي ته حاجت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## داوریدلو (غوږنیولو) هرفونه :

۱.د غږونو ، هجاګانو ، کلمو ، عبارتونو او جملو په تلفظ ، آهنګ او مانا وو پوهیدل
۲.د لغتونو ذخیره زیاتول
۳.د خبري کولو ځای او موقع پیژندل ، په مناسب وخت کې دنورو خبرو ته غوږ نیول او ورته ځواب ویل
۴دنورو په نظریو او عقیدو باندې پوهیدل
۵.د نورو د ګټورو تجربو په باب معلومات ترلاسه کول او دهغو په مرسته خپلو فکرونو ته وده او پراختیا ورکول .

مخکې له دې چې ماشوم ښوونځي ته راشي ، دمور غږونه او ورپسې د کورنۍ دنورو غړو غږونه اوري او ورو ورو دهغوی غږونه کلمې او جملې په غیر مقصودې توګه زده کوي .
په ښوونځي کې د ماشوم د اوریدلو مهارت ته وده ورکول په بیلا بیلو طریقو سره کیږي.
ښوونکی کولای شي چې ماشومانو ته کیسۍ ووایي چې حل يې کړي ، قصې ورته وکړي اوماشومان دې بیا ووایي ددې لپاره چې دماشومانو زړه تنګ نه شي ، ښوونکی باید په ساده ژبه د ماشومانو دسويې سره سم په ورین تندي او ظرافیت ، په نرمه ، پسته او خوږ ګړدود خبرې وکړي . په تدریس کې دې داسې مواد وړاندې کړي چې د ماشوم د چاپیریال د غوښتنو سره سمون ولري . داسې مواد باید جالب وي اودماشومانو پاملرنه متمرکزه کړای شي .
ښوونکی باید اوریدلو لپاره دماشومانو سره په لاندې توګه مرسته اوکمک وکړي او لاندې نقطې دې په نظر کې ونیسي

۱.ښوونکی دې دوینا په وخت داسې څه ووایي چې د غوږنیولو ارزښت ولري
۲.دوینا په وخت کې دې یو ښه پلان ولري څو دماشومانو توجه ځانته جلب کړي .
۳.ښوونکی دی داسې یو شی ووایي چې په هغه کې یو هدف پروت وي .
۴.په ډیرو ساده او مناسبو الفاظو باندې دې خبرې وکړي څو چې زده کوونکي ورباندې پوهه شي او داول سره برابر وي .
۵.په ټولګي کې دی ښه په زړه پورې فضا مینځته راوړي ترڅو ماشومان د ښوونکي خبرې واوري
۶.ښوونکی باید په داسې ځای کې ودریږي چې درښا مخه ونه نیسي څو چې دماشومانو سترګې خرابې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شي .
۷.دماشومانو دناستې ځای باید مناسب او ارامه وي .

## داوریدلو لپاره یو شوونیزې اندیزونه :

به لومړي خت کې دالاندې لارښونې تر سره کړئ:
۱.ماشومان دی ټولګي کې دښوونکي اوازونو ته غوږ کېږدي او هغه دې واوري .
۲.ماشومان دې بهر بوځي او هلته دې مختلف اوازونه واوري او هغه دې وپیژني .
۳.ماشومانو ته دې مختلف اوازونه واورول شي اوهغوی دې غوږ ورته ونیسي او ماشومان دې یو غږ له بل څخه بیل کړئ.
۴.ماشومانو ته دې ورته کلمې چې هم قافیه وي تکرار کړئ.
۵.ځینې لارښونې تعقیب کړئ.
۶.داوریدلو ځینې تمرینونه ( لوبې ) اجرا کړئ یعني یوه کوچنې لوبه چې په هغې کې ځینې کلمې او جملې وي تکرار کړي ، او بیا دې هغه کلمې ، جملې له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړي.
۷-ماشومانو ته دې په یوه ځانګړې موضوع کې یواځې یو ځل لارښوونه وکړي او بیا دې دهغه پوښتنه وکړي او زده کوونکي دې ځواب ورکولو ته مجبور کړي ترڅو زده کوونکي اوریدلو لپاره اړتیا احساس کړ ي .
۸.ښوونکی دی په لوړ اواز اوریدلو لپاره دفتاً یو پراګراف ووایي او په دې پراګراف کې دې د زده کوونکو څخه پوښتنې وکړي .
۹.د ټیپ شوې الې په واسطه ځینې اوازونه ماشومانو ته واورول شي او په هغه کې داوزوکوونکي حالت معلومول .

۱۰.دورځپاڼې یوه برخه چې له رادیو له خوا خلکو ته اوریدل کیږي په هغه حصه کې له زده کوونکو څخه معلومات وغوښتل شي .
۱۱.ځینې لوبې دې اجرا کړي او په هغې کې دې ځینې ځانګړې کلمې او مفاهیم له ماشومانو څخه پوښتنه وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

### دغوږنه نیول علتونه :

- ماشومان د ښوونکي په خبره چې دی څه وايې سم نه پوهیږي .
- شاید د ښوونکې اواز په کافي اندازه (اوچت ،کښته ) او ساده نه وي. څو زده کوونکي يې په خبرو باندې پوه شي .
- ماشومان کوښښ کوي چې ډیر زیات له وخت نه کار واخلي ، څو هغه څه واوري فکر يې تحلیل کولای شي .
- که چیرې ښوونکی داسې کلمې استعمال کړي چې دزده کوونکو له سويې څخه اوچتې وي نو ماشومان غوږ ورته نه نیسي .
- ښوونکې باید د زده کوونکو علاقه او په زړه پورتیا پیدا او په موضوع په زړه پورې کړي . که نه زده کوونکي غوږ ورته نه نیسي .
- له بعضو زده کوونکو سره ځینې نورې موضوعګانې موجودې وي او زده کوونکي په همغه موضوع کې فکر او چرت وهي نو په دې وخت کې هم زده کوونکي د ښوونکي خبرو ته غوږ نه نیسي .
- کله کله داسې هم کیږي چې یوه موضوع زده کوونکي څو وارې وي او یايې هغه موضوع په تیر وخت کې لوستلې وي ، نو په دې حالت کې دتکرار په وجه زده کوونکي د ښوونکي خبرو ته غوږ نه نیسي .
- کله داسې هم پیښیږي چې زده کوونکي ځانته شخصي نظريې او مفکورې لري او د ښوونکو له نظریاتو سره هم عقیده نه وي له دې امله د اوریدلو لپاره ځانګړې په زړه پور تیا نه ښکاره کوي.
- بعضې وخت داسې هم کیدای شي چې خپله ښوونکې ددرس ورکولو په وخت د موضوع غایه او موخه په ښه شان سره نه شي توضیح کولای چې دا کار هم دزده کوونکو د غوږ نه نیولو علت کیدای شي .

### د یوښه اوریدنکي خواص:

۱.یو ښه اوریدنکې همیشه مؤادب او قرار وي او دنورو د خبرو په وخت کې اخلال نه پیدا کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.ښه اوریدونکی چپ ارام په خپل ځای کې ناست وي او شاوخوا ته بې ځایه حرکت نه کوي .او همیشه یې توجه د ویونکي خواته وي .
۳.ښه اوریدونکی مهمې نقطې تعقیبوي او په هغه کې فکر کوي .
۴.ښه اوریدونکې د موضوع سره مینه ،علاقه او په زړه پورتیا ښکاره کوي .
۵.ښه اوریدونکی معقولې پوښتنې کوي .
۶.ښه اوریدونکې د ځینو نقطو په اړوند زیات شواهد او دلایل غواړي .
۷.ښه اوریدونکی د ویل شویو شیانو په اړوند خپل قدرت او لیاقت ښکاره کوي .

په یاولرئ چې د یو ښوونکی په توګه په ټولګي کې دنظم او دسپلین په غرض په اوچت اواز خبرې ونکړئ.
که چیرې زده کوونکي غالمغال کوي ، ښوونکی دې ورو خبرې وکړي او خپل اواز د زده کوونکو له اوازونو ښخه اوچت نه بلکې په متوسط شکل سره دې خبرې شروع کړي .

## ب - دخبرې کولو یا غږیدلو تکړه توب(مهارت) :-

د ژبې دوهم تکړه توب خبرې کول دي ، اودا تکړه توب باید په زده کوونکو کې تقویه شي دخبرو هغه طبیعې حالت چې زده کوونکی ورسره اشنادی هغه معمولي او عادي خبرې کول دي .کومې چې دوې یې د خپل پلار ، مور ، ملګرو او دوستانو سره کوي .
ماشوم تر ښلور پنځو کلونو وروسته په خپله مورنۍ ژبه کې یوه اندازه لغتونه ، عبارتونه او جملې زده کړې وي .کله چې په ښوونځي کې شامل شي په خپله مورنۍ ژبه خبرې کولای شي خو دومره واضیح نه .ښوونکی هڅه کوي چې دماشوم دغه تکړه توب ته نوره هم وده او پراختیا ورکړي .
د ځینو تلفظ څرګند او واضیح نه وي ، د ځینو ژبه نښلي او ځینې نور د اوازو په تلفظ کې مشکلات لري .دوې نه یواځې په خبرو اترو کې تکلیف لري بلکې د ژوندانه په مختلفو برخو کې لکه ټولنیز پرمختګ ، ذهني رشد او هیجایي پرمختګ کې یې خنډونه او بندښ لیدل کیږي .
همدارنګه دزده کوونکو استعداد یو دبل څخه توپیر لري په دغه ټولو برخو کې باید دزده کوونکو سره مرسته وشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غبرېدلو د تکړه توب موخې :

۱.ماشوم د غبرېدلو په مرسته سم فکر وکړي او خپلې نظريې چې دهغه پوهې اودرک محصول دي بيان کړي.
۲.خپلې اړتياوې او غوښتنې په بشپړ ډاډ ، ازاده توګه او روانه ژبه ووايي .
۳.له خپلې پوهې سره سم په ټولنيزو بحثونو او مناقشو کې ګډون وکړي .
۴.د موضوعګانو په بيانولو کې خپل نوښتګر ځواک ، صلاحيت او تکړه توبونه وکاروي .
۵.له اړتياوو سره سم کلمې او اصطلاح ګانې په صحيحه توګه زده او سم يې تلفظ کړي . چې عبارتونه او جملې سمې او په مناسب ډول ولولي .
۶.نظمونه په شعري ګردود ووايي.

د ښوونکي يو اړخيزه خبرې ماشومان په خبرو نشي راوستې ،ښوونکی بايد داسې فعاليتونه په ټولګي کې رامنځته کړي چې ماشومان په خبرو راولي او پورتنې هدفونو ته پراختيا ورکړي .
د بيلګې په توګه : کيدای شي چې ښوونکی ياماشوم يوه کيسه ووايي. بيا ښوونکی يا ماشوم پخپله دهغې کيسې په اړه يو له بل څخه پوښتنې وکړي او ځوابونه سره ورکړي . يا داچې ښوونکی ماشومانو ته لارښوونه وکړي چې په ټولګي کې ځينې فعاليتونه د ډرامو او ډيالوګونو په بڼه تمثيل کيږي .
داهم کيدای شي چې ښوونکی يو تصوير چې بيلابيل شيان ، فعاليتونه او منظرې په کې انځور شوې وي پر توره تخته او ديوال وځړوي او دماشومانو د ذهني سويې په پام کې نيولو سره دوی ته وخت ورکړي چې هر يو په خپل وار سره خبرې پرې وکړي . همداراز ښوونکي ته ښايي چې په دې فعاليتونو کې ټولو ماشومانو ته مساوي اوبرابره ونډه ورکړي . که ځينې زده کوونکي د خبرې کول حرات ونه لري او يا څه تورې نيمګړتياوې ولري له حوصلې ، زغم او مهربانۍ څخه دې کار واخلي او هر زده کوونکي ته موقع برابره کړي چې په فعاليتونو کې ونډه واخلي په درسي موضوعګانو باندې وغبرېږي اوتمرينونه سرته ورسوي. له بلې خوا ښوونکی بايد زده کوونکو ته داسې چاپيريال برابر کړي چې پرته له ويرې خپلې نظريې او وړانديزونه ددرسي موضوعګانو په اړه ووايي او هيڅکله له ښوونکو څخه د بيرې او ډار احساس ونه کړي . ښوونکي ته هم لازمه ده چې له زده کوونکو سره داسې چلند وکړي چې ماشومان ورته د يو زړه سواندې لارښود ،مشر او دوست په سترګه وګوري . خپلې ستونزې ورته ووېلای شي او دتمرينونو او فعاليتونو د اجراکولو پرمهال وار خطا نه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خبرو کولو لپاره څولارې په لاندې ډول سره دي:

ورځنۍ محاورې ، د تیلیفون د استعمال لارې ، راپورنه ترتیببول او ارایه کول .
داستان ولیکل او ویل ، غیرې رسمي خبرې او اترې ، ځینې تمثلي شیان ښودل اودهغوی شرحه اعلانونه ترتیبول او ویل یې. ښوونکې کولای شي چې د ځینو نورو شیانو څخه کوم چې د زده کوونکو په شوق او ذوق پرسویه بابروې ترتیب او زده کوونکو ته وړاندې کړي .

## الف ـ د تیلیفون داستعمال طریقه :ـ

تیلیفون دهغه مناسبو وسایلو څخه دی چې دخبرو د پرمختګ او پیغام د ژر رسولو لپاره ورځنې کار اخستل کیږي .
ښوونکی کولې شي چې زده کوونکي د تیلیفون په استعال باندې پوه کړي ددغه کار لپاره اساسي او مناسبه لاره داده چې د ټولګی له زده کوونکو څخه دوه تنه انتخاب کړي . یو زده کوونکی د ټولګي په یو کنج او بل یې په بل کنج کې ولاړوي او دغږون کوونکي په ډول دې خبرې وکړي.
ښوونکي ته دا لازمه ده چې زده کوونکو ته د تیلیفون کولو د غه لاندې ټکې ورزده کړي :
د تیلیفون دغوږي (ګوشک ) د اخستلو سره سم خپل ځان معرفي کړي او وروسته دې و مخاطب نوم او ځای پوښتنه وکړي .
لکه : زه (خاټول ) یم . تاسې څوک یاست ؟
غوږې سم په لاس کې ونیسې او په څرګند ډول دې خبرې وکړي . د خبرو په وخت دې دخبرو اداب مراعات کړي . او ښې ،ښې جملې دې استعمال کړي او دمخاطب خبروته دې په غور سره غوږ ونیسي .
که چیرې مخاطب بل چا ته پیغام لیږي هغه دې په ډیره توجه سره واوري او څرنګه چې ورته ویل شوي وي په هغه شان دې مطلب سړي ته ورسوي .
دوخت دعایت کول او په تیلیفون کې خبرې کول له هغو مطلبونو څخه ګڼل کیږي چې ښوونکی باید زده کوونکي ورته متوجه کړي .
زده کوونکو ته دې په ډاګه وویل شي چې تیلیفون یو عمومي دستګاه ده نو داسې خبرې وکړئ چې دادب له چوکاټه څخه د باندې اولیږې نه دې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې زده کوونکي په ښوونځي کې د تیلیفون کولو عادت او آداب زد کړي وروسته هغه دوی په خپله د خبرو په وخت کې رعایت کوي .

### *ب - د راپور د ویلو طرز:*

**الف -** ګزارش د معمول سره سم دیوکس له خوا د خو تنو لپاره تهیه او ترتیب کیږي لازمه داده چې موضوع د ترتیب کوونکو او اوریدونکو لپاره ګتوره او په زړه پورې وي .
ګزارش دهغه هدفونو لپاره ترتیب کیږي چې پخوا زده کوونکو د بحث او څیړنې وړ ګرځیدلې وي .
او په عمومي ډول سره اخباري او اطلاعي بیه او جنبه ولري .

.دګزارش لپاره دغه لاندې ټکي په نظر کې نیول کیږي :

د زده کوونکو لپاره د کتابونو ، فلمونو اونور شیانو د توجه او پاملرنه وړ ده .
د یو سفر او نابېره تګ ګزارش دهغه مطلبونو لپاره ګټور دی چې د لوستل شوو علماوو اخستل شوي وي.
دمثال په توګه دهغو شیانو تهیه چې دشکل او رنګ په برخه کې وي .
یاهغه ځانګړی شی چې د افتخار وړ ګرځیدلی وي لکه د افغانستان دجنډې رنګونه او یا دهغو رنګونو کسب او زده کړه چې د ځانګړو خاطراتو څخه بحث کوي او څیړنه کوي .
او داسې هم کیدا شي چې یو زده کوونکی د خپل نظر سره سم ځینې شیان راټول کړي چې دوستانو او اوریدونکو لپاره په زړه پورې وي . د ښو عکسونو په ښودلو او ژبې په بیان سره دې هغه موضوع په زړه پورې او ښایسته کړي .
یوه ښه لار داده یادښتونه ټول کړي ترڅو چې ګډوډي ورته پیښه نه شي او په خپله ځانګه کې بریالیتوب ترلاسه کړي . د زده کوونکو عکس العمل یو تر بله دداسې راپورنو په ترتیبولو کې په ښکاره ډول د یو بل څخه توپیر لري .
هغه زده کوونکي چې عمر یې تر نورو ډیر وي هغوې ټاکلې موضوع د خپل فکر سره سم لنډوي.
که چیرې موضوع ډیره مهمه او په زړه پورې وي نودی ته تیاریږي چې په هغه کې نوره څیړنه په زور وکړي او کوشش کوي چې دنقاش برجسته برخه یې دهنر دلارې په زړه پورې کړي .
دتحریري راپورونو په باره کې مو یو څه وویل . اوس به د شفاهي راپورنو په باره کې یو څه ووایو :

(c) ketabton.com: The Digital Library

شفاهي كزارش له هغو ګټورو کارونو څخه دی چې زده کوونکي د سمو او درستو ویلو او فکر کولو ته متوجه کوي .
شفاهي راپورونه دزده کوونکو سره د ګټورو او سمو کارونو په انتخابولو ددرست صیحیح لغتونو او غوره اصطلاحاتو او د ادب په رعایت کولو کې ډېره مرسته کوي او هم دنورو کارونو لپاره تشویق کیږي .

## ))داستان یا ناول ویل :

هغه چې داستانونه چې زده کوونکي يې پخپله لیکي په غالب ګمان سره ددوې شخصي تجربې دهغوی تحلیل او تصور په هغه برخه کې ډیر لاس لري او مهم نقش لوبوي دا ډول تازه او نوې داستانونه چې د زده کوونکو له خوا لیکل کیږي په زړه پورې دي . دداستان لیکل ځانته یو ټاکلی وخت لري ترڅو زده کوونکي ورته تشویق کړي د یوې کورنۍ پیښې په باره کې یا هغه کارونه چې د جمعې په ورځ مینځ ته راځي او یا هغه لوبې چې د څلورو فصلونو په تیریدو سره سرته رسیږي لکه ډنډه توپ لوبه ، لامبو ، علمي سفرونه او دهغه شیانو په باره کې چې خورا مهم وي نو داستان دی . په دغه ډول موضوعګانو کې ولیکل شي .
ښوونکی کولای شي چې کوم وخت دا ډول داستانونه له زده کوونکو څخه اورې نو له هغو نه د یو بل کوچني او په زړه پورې داستان ولیکي او هغه داستان دې زده کوونکو ته ووایې .
په دغه ډول سره ښوونکی کولای شي چې دتحلیل له لارې زده کوونکو داستان لیکلو ته تشویق او متوجه کړي.
دبلګې په توګه: كه چيرې يو زده کوونکی ښوونځي ته یوه (سویه) رواړي او خپلو ملګرو ته يې وښايي نو په دغه وخت کې دې ښوونکی دلږ وخت څخه کار واخلي اوزده کوونکو ته دې ووایې .فکر وکړې چې دا( سویه) ژوندې راځي چې ددغې سویې په باره کې داستان ولیکو .په دې ترتیب سره زده کوونکي د سویې په باره کې ځینې مطلبونه وايي او نور زده کوونکي وربانديې یو څه زیاتوي چې په دغه شان یو داستان لیکل مینځ ته راځي .
ښوونکی دې خپل زده کوونکي حقیقي داستان لیکلو ته متوجه کړي .
برعکس که چیرې داستان تخیلي بڼه ولري کوښښ دې وکړي چې د حقیقی ژوند نتیجه ورڅخه لاس ته راوړي .
ښوونکی دې خپلو زده کوونکو ته وړاندیز وکړي او له هغو نه دې وغواړي چې خپلې هیلې د خوب دلید په شان څرګند کړي .
یا دې داسې تصور وکړي چې د داستان لیکلو یو قهرمان دې دمشال په ډول که چیرې د سلیمان«ع»

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمی دهغوی په لاس کې وي څه به يې پرې کول ؟
نو ددې لپاره چې زده کوونکي پخپله داستانونه وليکي او په دغه لار کې پرمختګ وکړي نو لازمه ده چې ددوی د تخيل جنبه تربيه او وروزل شي . ځکه چې داجنبه تر هرڅه ډير زيا ت ارزښت لري .هغه داستانونه چې زده کوونکي يې ليکي په لومړۍ مرحله کې هغه دې ګډوډوي او دوی ته زياته توقع هم نه کيږي.
دا ځکه چې وروسته له هغه ورو ورو د ښوونکي په توجه دمکمل وايي او منظم توب بڼه غوره کوي .

## دداستان ليکلو غوره ټکي دادي:

د زده کوونکو دبيان پرابلم ،د لفظونو جوړښت ، هدف او موضوع دداستان غوره خصوصيات دي او په زړه پورې توجه غواړي .
دداستان قهرمان دخورا مهمو خواصو څخه ګڼل کيږي يعنې قهر مانانو ته دې پوره پاملرنه وشي .
داستان هغه وخت ډير جالب دي چې داوريدونکو شوق(علاقه) ،ذوق او تحريک ځان ته واړوي .
په کوم داستان کې چې نوې عقيدې او حساسې نظريې موجودې دي نو جازبيت درجه يې هم ښه وي .
د ساده لغتونو او جملو ترل يو تربله دداستان موضوع خورا ښايسته کوي نو لازمه ده چې زده کوونکي د لغتونو يوه لويه پانګه ولري.چې په تدريجي ډول سره دداستان ليکلو په وخت کې په کار واچوي . دا ځکه چې دلغتونو په کار اچوي. دا ځکه چې دلغتونو په کار اچولو سره دداستان موضوع ډيره اغيزمنه او په زړه پورې کيږي .
زده کوونکي هم کوښښ کوي چې داسې داستانونو ته شوق او علاقه پيداکړي او په خپل وار سره خپلو داستانونو ته مناسب عنوانه غوره او پيداکړي .
هغه څوک چې دداستان ليکلو په باره کې وليکل شوه د رهنما بڼه لري او ښوونکی کولای شي چې د خپل ابتکار سره سم دداستان ليکلو موضوع نوره هم ګټوره او په زړه پورې کړي او زده کوونکوته يې ورزده کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ځېل مينځ کې خبرې اترې يا غير رسمي خبرې او ورځنې محاورې:

غير رسمي خبرې په عمومي صورت سره يو شفاهي غور او تعمق دی چې ديوې موضوع او يا څو موضوع
ګانو په باره کې ديو ګروپ او ډلې له خوا مينځ ته راځي او يو خاص هدف لري چې هغه تربحث او
څيړنې لاندې نيسي .
غير رسمي خبرې هغه لومړی په زړه پورې تدبير دی چې د ښوونځي په لومړنيو ټولګيو کې او لومړنيو
ښوونځيو کې ورڅخه استفاده کوي. دا خبرې يو مروج پلان لري چې ټاکلی ګروپ دهغو مشکلاتو او
خنډنو ته متوجه کوي او تر غور لاندې نيسي ورو ورو دهغو عملي کول صورت مومي.
چې په سر کې يې يو ښوونکی او يا يو تکړه زده کوونکی د رهنما په ډول کار کوي .
غير رسمي خبرې او عاميانه مناقشه ديوې ديوې پوښتنې او يوې خبرې څخه منشا اخلي
او ورو ورو يوې نتيجې ته رسيږي ،لکه : د خپل هيواد دځينو ملي ورځو په باره کې پوښتنې کول دبيګې
په توګه دخپلواکې ورځ ،د ثور اومه ، اتمه ، څکه خلکو دژوند چارې داجتماعي علومو له مطالعي نه
زده کړې دي او ورڅخه استفاده کوي .
اونړيوال جريانونه ، د سولې خبرې ، اقتصادي کنفرانسونو او دملګرو ملتونو غونډې ديو واقعې اواصلې
ديالوګ په شکل ترتيب کولې شي.
هغه ټولګي چې دخپل هيواد دخوشحالۍ او نيکبختۍ په برخه کې څه اوريدلې وي هغه دې ديو
ديالوګ په شکل ترسيم کړي . کيسې دې جوړې کړي او هغه دې وليکي .
سپورت او موزيک ته دې هم پکښې برخه ورکړي او دغه فعاليتونه دې د زده کوونکو مور او پلار ته هم
وړاندې کړي .
وروسته دې دغه مواد نورو ښوونځيو ته ور وښودل شي .
همدا ډول زده کوونکي د ځان لپاره کالي او جامې جوړې کړي اونمونې دې دننداري دپاره کيږدي.
د پورته لوستل شوو شيانو تکامل د زده کوونکو د سويې په لوړولو کې په زړه پورې رول لوبوي .

## ورځنې محاورې :

دخبرو هغه معمولي اوعادي ډول دی چې دلوبو په وخت کې ، د سلام عليکم په وخت کې همدارنګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیژندګلوي په وخت کې له اشنایانو ،دوستانو ، ملګرو ، همدارنګه د عامو خلکو سره دخبرو په وخت کې ورڅخه کار اخستل کیږي .
همدارنګه دښوونځي سامان الاتو دبرابرولو په وخت کې د حیواناتو او نباتاتو دلیدنې او مشاهدې په وخت کې ورڅخه ګټه اخستل کیږي .
که چیرې ښوونکی په مستقیم ډول سره په دغو خبرو کې ګډون نه کوي نه دې کوي ، خو دماشومانو خبرو کولو اوغوږ نیولو ته دې ډیر متوجه وي .

## ج ـ لوستل Reading

لوستل هغه کیلي ده چې دکتابونو او چاپ کړي موادو دروازه دانسان په مخ خلاصوي اوانسان ته دځپلواکې زده کړې زمینه برابروي ، په حقیقت کې لوستل دښوونې اوروزنې یوبنسټیز توکی دی چې دهغې پرته دکتابونو او له ښوونیزو اوروزنیزو منابعو څخه ګټوره اودوامداره ګټه اخیستل کیدای نه شي .
دزده کوونکو دپوهې هر اړخیزه پراختیا په لوستلو سره پیل کیږي . لوستل په حقیقت کې د ښوونې اوروزنې زیر بنا بلل کیږي . که چیرې یو زده کوونکی په لوستلو کې قابل نه وي نو هغه په تاریخ ، جغرافیه ،ساینس اونور مضامینوکې څه شی نه شي زده کولای . ځوک چې په لوستلو کې کمزوری اوضعیف وي نونه شي کولای چې په ښوونه اوروزنه کې پوره برخه واخلي .
.ذهن ته دصوتي سمبولونو اوانځورونو دمفهومونو لیږدول ،هغه په ژبه راوړل او دسمبولونو او آوازونو څخه مفهوم اخستلو ته لوستل وایي .

### یو ښه لوستونکی کوم دی ؟

یو ښه لوستونکی په دغه لاندې شیانو باندې قادر وي:
۱.څه لولي په مانا اومفهوم باندې پوهیږي . یواځې د کلمو تلفظ کول دلوستلو مانا اومفهوم نه لري ترڅو چې لوستونکي ته دکلموماناا اومفهوم ورته معلوم نه وي .
۲.په هغو ټکو اوعلامو دې پوه شي چې په لوستلوکې ورسره مخامخ کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه :(؟) .(.).(.).(!) .(...).( ،) اوداسې نور ،اودمطلب لنډيز چې دکتاب په وروسته برخه کې لوستونکی
بايد هغو نقشو ګرافونوباندې پوه وي چې دتحريري موادودتشريح کولو په وخت کې ورته متوجه وي .
۳.ښه لوستونکی دکتاب دټولو مفرداتو سره لکه :لړليک ،عنوانونه او ځينې نورو شيانو باندې پوهيږي .
۴.ښه لوستونکی هغه دی چې دلوستلو په وخت کې د لوستلو طريقې په نظر کې ونيسي او کار دې
ورځينې واخلي . يعنې ديوې لنډې اواسانې کيسې په لوستلو کې دې له تيزيې څخه کار واخلي خو علمي
حقايق اوهغه ځايونه چې ډير مهم او پيچيده وي يادداشت او ياد کړي.
۵.لوستونکی دې د لوستلو سره مينه اوعلاقه ولري .ښوونکی دې د خپلې پاکې دندې له مخې دا پر
ځان لازمه وبولي چې زده کوونکو ته هغه لارې ورزده کړي چې ددوې سره دلوستلو په وخت کې مرسته
کوي اوهغه مرستې په لاندې شکلونو کيدای شي .
۱.څو ساده کتابونه دې په لومړي وخت کې دنده ورکړي څوچې پخپله يې ولولي اوبيا دې دورکړ شوو
کتابونو څخه دهغوی دپوهې په تناسب له هغو کتابونوڅخه څوعنوانونه انتخاب او په ټولګي کې دې
ووايي .تر څو چې دلوستلو قوه يې پرمختګ وکړي .
ددې پرمختګ لپاره دې ورځپاڼه ،مجله او ساده کتابونه انتخاب کړي اوپه زده کوونکو باندې دې تکرار
ولولي . دغلط تلفظ او بې ځايه توقف او ځينو نورو اشتباهګانو مخه دې ونيسي ورته دې اصلاح شي .
همدارنګه دکلمو استعمال په مناسب ځای کې دجملو طرز او دجملو ترکيبونه دې ورته په خيال کې
وساتي . ترڅو چې دزده کوونکو د لغاتو ذخيره قوي او دهغو داستعمال ځای د پيژني .
ترکومه حده چې په زده کوونکو کې دلغاتو پانګه زياتيږي په همغه اندازه د زده کوونکو علمي سويه
لوړيږي .
همدارنګه کوښښ دې وشي چې دفکر تمرکز د لوستلو په وخت کې زده کوونکو ته وښودل شي .
په لومړنيو زده کړوکې لوستل په دريو پړاوونو کې ترسره کيږي په لاندې ډول دي :
۱.د توجه اوذوق راښلل:
پدې پړاو کې ښوونکی بايددلوستلو لپاره د زده کوونکو ذوق او پاملرنه وپاروي ،
ښوونکی پدې برخه کې کولای شي ددرس په پيل کې په زړه پورې کيسو ،پيښو او نورو په زړه پورې څيزو
په ښکاره کول يا ددرس دموضوع دعنوان په اړه ډول ډول تصويرونه وښي او په دې توګه ددرس په اړه
د زده کوونکو ذوق وپاروي او ددوی پاملرنه ددرس اصلي برخې ته واړوي.

۲.د پټې خولې لوستل:

ددې لپاره چې زده کوونکي د متنونو دسمدستي لوستلو په ترڅ کې له ويرې او ډار سره مخامخ نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

،دکلمو ،جملواو پراګرافونو دترکیب سره اشنا او په لوړ اواز لوستلو لپاره چمتو شي نو دپټې خولې لوستل صورت نیسي . په دې ډول لوستلو کې شونډې نه خوځیږي دخولې څخه اواز نه اوځي ،یواځې دذهن په کارولو او دسترګو په حرکاتو سره لوستل سرته رسیږي .
دپټې خولې لوستلو ښیګڼه داده چې زده کوونکي په راتلونکي کې د تیزو او چټکې لوستنې له پاره چمتو کیږي دې ډول لوستلو ته مطالعه هم ویل کیږي .
دپټې خولې په لوستلو کې زده کوونکي دهغو کلمو ،مفهمونواو جملو په برخه کې ډیر پام کوي چې لوستل او یا مانا یې ورته ګرانه وي . زده کوونکي هڅه کوي چې نوي مفهمونه دجملو دسیاق له مخې ولولي او په مانا یې وپوهیږي . که بیا هم ستونزې ولري نوهغه په نښه کوي ،دنورو زده کوونکو او ښوونکي سره دمناقشي او بحث په وخت کې یې زده کوي .

۳- په لوړ غږ لوستل:

د دې لپاره چې ښوونکی ډاډه شي ، چې زده کوونکو یې متن لوستلی او په مانا یې پوهېدلي دي ، نو متن په لوړ غږ لولي ، بیا د مفهوم اخیستنې لپاره یې یو څه پوښتنې کوي او تعریفونه سرته رسوي. لنډه دا چې ښوونکی د یو متن په لوستلو کې لومړی باید د درس د موضوع یا سرلیک په اړه په زړه پورې خبرې وکړي ، څو چې د زده کوونکو پاملرنه درس ته واړول شي ، بیا دې زده کوونکو ته لارښوونه وکړي ، چې د درس متن په پټه خوله له ځانه سره ولولي او مشکل لغتونه یې په کتابچو کې ولیکي یا یې په نښه کړي او وروسته بیا هر ستونزمن لغت چې د زده کوونکو له خوا په کتابچو کې په نښه شوی وي په توره تخته باندې دې ولیکي او مانا یې له زده کوونکو څخه وپوښتل شي. که چېرې ټول زده کوونکي د لغت په مانا پوه نه شي ، نو ښوونکی دې د لغت مانا پر تخته ولیکي او بیا دې متن لومړی په زده کوونکو او بیا په خپله په لوړ غږ ولولي.

د لوستلو د مهارت په وده او پراختیا کې باید لاندینۍ لارښوونې په پام کې ونیول شي:
زده کوونکي باید :

1. د لوستلو په ټولو پړاوونو کې د لوستل شویو کلمو/ عبارتونو په مانا او مفهوم ښوونېزو او روزنیزو ښېګڼو (مسلکي مالومات ، د ژوند مسایل ، اخلاقي سلوک) ښه وپوهیږي.
2. د کلمو په ترکیبي بڼو او د سمبولونو او غږونو په اړیکو وپوهیږي.
3. هڅه وکړي چې په نویو کلمو ، موضوع ، مانا او مفهوم د متنونو د قرینو له مخې وپوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. نظمونه په ښه غږ او شعري لهجه ولولي.
5. متن په مناسب او ورِ غږ (نه ډېر لوړ ، نه ډېر ټيټ ، نه ډېر تېز ، او نه ډېر ګُند) ولولي ، چې اورېدونکي يې په مينه او د لچسپۍ تعقيب کړای شي ، په مفهوم يې وپوهېږي او منفي اغېزې پرې ونه ښندي.
6. ډېر غوره او کليدي کلمې او جملې پر توره تخته وليکي ، يا دې ښوونکی پر توره تخته وليکي.
7. ټول وار په وار لوستلو کې برخه او ونډه واخلي.

## د لوستلو لپاره تيارى:

د يوه لوستونکي لپاره لومړی شی ، چې دی ورته اړ دی ، هغه د ده د کښېناستلو وضعه ده ، چې په خورا درست او ښه ډول د کتاب په مقابل کې کښېني.
په دې مانا چې پرځنګ يا د مخې خواته دې ډېر پر کتاب ټيټ نه شي.
داسې نور حالتونه ، چې د لوستونکي صحت ته مناسب نه دي بايد اختيار نه کړي.
د لوستلو په مقدماتي او لومړي پړاونو (مرحلو) کې زده کوونکي دې ته هم اړتيا لري ، چې د سترګو د حرکتونو له مخې له ښۍ خوا نه چپ لور ته غړول زده کړي او د ا کار په لاندې اصولو باندې استوار دی:
۱- د ليدلو ډېرې ساده ، بسيطې خنداورې تصويري کيسې زده کوونکو ته وويل شي او داسې لارښوونه او پرمختګ منځ ته راوړي ، چې دوی يې هيله او آرزو ولري.
۲- د يو چوکاټ په ذريعه چې د يو ښيښيي مردکي چوکاټ دې د نوموړي چوکاټ په وسط کې څو طبقې دي او پرمخ يې پلاستيک سريښ دی ، د د غه چوکاټ په متناظرو کنجونو کې سوري دي. کله چې په يوه سوري کې مردکي واچول شي ، د چوکاټ چپ خواته حرکت کوي ، تر څو چې دوهمې برخې ته راځي اما کله چې ښي خواته حرکت وکړي ، نوموړی مردکی مالومېږي ، په همدې ترتيب ورو ورو هر څومره چې غواړي د مردکي حرکت ته دوام ورکولای شي چې په حقيقت کې يوازې د سترګو حرکات د ښي خوا څخه چپ لورته  په دې وسيله سره د سترګو حرکت روزل کيږي او دا زموږ يواځينۍ هيله ده ، چې د سترګو حرکتونه ورو ورو د لوستلو لپاره اماده شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- څوک چېرته ځي ؟

د صفحې ښۍ خوا ته دې زده کوونکی او چپ لور ته د هر یو زده کوونکي لپاره یو یو کور دی ، د هر زده کوونکي لپاره د دوی کورته اوږده لاره تللې ده.
اوس هر یو زده کوونکی کولای شي ، چې د ښي لور څخه نومړې لیکه چې موږ ورته لار ویلې ده تعقیب کړي ، تر څو خپل کور ته ځان ورسوي او یا دا چې له مطلب او موخې سره اړیکه ونیسي.
البته د لارې تغقیبول په ګوتو او یا نورو شیانو سره کیږي ، د لوستلو په برخه کې دا تمرین سترګې له ښي لور څخه چپ لورته روزي ، له بلې خوا د لیکلو لپاره هم مرسته کوي او ه د زده کوونکو غږو ته نظم او نسل وربښي.

## د لوستلو لپاره څنګه پلان طرحه شي ؟

یو ښوونکی کولای شي چې دخپلو زده کوونکو سره د لوستلو په مهارت کې مرسته وکړي وروسته بیاهغه ته پرمختګ ورکړي . پدې برخه کې له ډېرو لاروڅخه کارو اخیستلای شي .
۱.ښوونکی کولای شي چې دخپلو زده کوونکو څخه دهم ریښه لغاتو په پراختیا کې مرسته وکړي پدې شرط که چیرې ددوی مورنۍ ژبه دکلماتو په ریښو کې ددوهمې ژبې سره ګډون او یوالې ولرې د ژبې په تدریس کې کولای شي چې عبارت ،متضادې کلمې او مترادفې کلمې سره شرحه کړي پدې شرط چې هم ریښه کلمې د یوې کورنۍ څخه وي توضیحات یې لازم دي .
مثلا: روغ ، روغتون ، روغتیا ، روغوالې اوداسې نور...
یخ او سوړ ، ویاړ او افتخار ،مرسته او کمک اوداسې نور .
لکه خپه او خوشحاله ، ژوند او مرګ ، شپه او ورځ ، دوست او دښمن :۲. متضاد لغات
ښوونکی پدې ډول له زده کوونکو سره مرسته هم کړلای شي چې دوې کوچنې او لوې کلمات وویشي
لکه پوه ، پوهنه ،ناپوه او داسې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه ښوونکی کولای شي چې پروفیکس زده کوونکو ته ورزده کړي ، لکه : بې بنیاده ، بې کوره ،بې کاره ، بې موره ، نا معقول اوداسې نور .
همدارنګه سفکس لکه : پوهنتون ، روزنتون ، کلیوالي ، ولسوالي او داسې نور .
۳.همدارنګه ښوونکی کولای شي چې د زده کوونکو سره د کلماتو مانا د قیاس له مخې له موجوده شاوخوا کلماتو او یا دنورکلماتو په وسیله سره مرسته وکړي ښوونکی کله چې دمجردو کلماتو یعنې د زده کوونکو په مورنۍ ژبه سره ځواب ورکولای شي پدې شرط چې ښوونکی د زده کوونکو په مورنۍ ژبه پوه شي دازیار باید وویستل شي چې په پښتو کې دامکان په صورت سره په ساده نقشو ،ساعاتو ، کلیزو او داسې نور مناسبو شیزونو باندې زده کوونکوسره او وروزل شي او زده کوونکو ته په ځینې نظریې په شعور ډول سره د خلکو د کلتور په باره کې معلومات ورکړل شي داهم پدې شرط که چیرې دوې وکولای شي او یا یې ضرور وبولي ښوونکی کولای شي چې په لنډ ډول سره ددوې دمورنۍ ژبې په وسیله سره معلومات ورکړي .
۴.ښوونکی دزده کوونکو په درک او پوهه د مختلفو لارو څخه باوري شي او څه نا څه لاور یادونه وکړي .
۵.ښوونکی د ډیرو مختلفو سوالونو ډولونه په عینې سلسله کې پوښتنې وکړي .
دمثال په ډول : دی پوښتنه کولای شي چې ایا زلمی افغان دی!؟
دا ډول سوالونه په استفهامي ډول باید وښودل شِي او استفهامي کلمات لکه څرنګه ؟ څه ؟ څوک ؟ چیرته ؟کله ؟ څله ؟ولې ؟ او داسې نور .
مثلا: څوک په امریکا کې اوسي ؟
څرنګه یې ؟کله راځې ؟ څه کوي ؟ څله خپه یې ؟ ولې ژاړې ؟او داسې نور .
۶.په وروستیو مراحیلو کې دی باید داسې پوښتنې وکړي :
(څنګه یا ولی)
قیاسي سوالونه د لوستلو په مواریدو کې باید وشي لکه : تاسې څه کوی ؟تاسې څه فکر کوې ؟
په همدې ډول ښوونکی داسې پوښتنې وکړي چې زده کوونکی ځوابونه د لوستلو په مواریدوکې کلمه په کلمه پیدا کړي .
ښونکی د یوې فقرې اصلي مفکوره او مقصد له زده کونکو څخه باید پوښتنه وکړي چې دوی هغه کلمات پیداکړي په یوه طریقه واضح او تشریح کړای شي . او دا وښي چې نوموړی شخص خبرې دبیړې او قهر په برخه کې دي یا هغه وضعه اوحالت چې دی پکې موقیعت لري درک کړي ښوونکی زده کوونکو ته غیری مرتبې کلمې په عباراتو او فقرو ورکوي وروسته بیا له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې دوی دې په اصلي اومرتب ډول سره واړوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه یو ښوونکی د زده کوونکو دلوستلو دتیز والي ته پرمختګ ورکولای شي .

**الف**: کله چې دوی خاموشانه یو شی لولي ښه به داوي چې وخت د لوستلو څو چنده کم کړي .

**ب** : ښوونکی د وخت دکموالي په جریان کې ډیره توجه وساتي او دزده کوونکو د کلمو تلفظ ته متوجه اوسي.

**ج**: زده کوونکي دې تشویق شي چې دشونډو حرکات کم کړي کله چې دوی خاموشانه مطالعه کوي .

**د**: ښوونکی په یوه معینه غایه او مقصد کې درس ورکړي نو دوې به ضرور څو سوالونو ته ځواب پیدا کوي ، بیا ځینې کلمات ورته پیدا کړي یاکومه مفکوره یا عنوان او یا داچې یو لوی اومرکزي فکر به ورته پیدا شي دا کار د ښه ویلو او لوستلو لپاره په چپه چوپتیا سره او هم په لوړ اواز .

خو ښوونکی پخپله ځینې چارتونه ورته جوړوي اوبیا په هغه کې لدې چارتونو څخه کار اخلي .

ځرنګه چې دلوستلو دمرحلو او طریقو په باره کې څه خبرې وشوي ښه به وې چې دلوستلو د ښوونې په برخه کې خبرې اترې وکړو او څو طریقې پدې باره کې هم شته چې دامکان په توګه له هغو څخه باید استفاده وکړاې شو .

## *لومړنۍ مرحله یا طریقه:-*

هغه مواد چې دوی زده کړي اویایې په یاد کړي دي باید هم یې ولولي او هم یې ښه تلفظ کړي دغه لوست یا ددیالوګ په ډول ترتیب شي اویا دی دیوې سلسلي عملي جملو په رنګ سره صورت ومومي او یا داچې یوساده تمثلي کیسه دټولګي په شاوخوا کې چې پخوا زده کوونکو ورباندې بحث کړای وي په داسې حال کې چې تدریس شوې ترکیبې جملې هم پکې ترتبب او تنظیم شي ښوونکی باید زده کوونکي دیته مجبور کړي چې دزده کړای شوي شیان ، نومونه ،بې له دې چې شیانو ته وګوري نوم یې په درست تلفظ کړي . وروسته بیا هغه مواد دښوونکي له خوا په لوړ اواز ولوستل شي په داسې حال کې چې زده کوونکي ورته په دقت سره وګوري او ښوونکی لوست تعقیبوي وروسته دښوونکي تر لوستلو زده کوونکي په ګډ اواز سره همدې طریقې په لوستلو پیل کوي دا هم ممکنه ده چې وروسته تر دې عملي د یو بل ګروپ څخه په انفرادي ډول هیله وشي چې ووایي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه مرحله :.

ښوونکي او يا يوه ډله د ژبې ښوونکي په ښوونځي کې اشنا کلمې او راز راز ترکيبونه ترتيب کړي وروسته يې ديوه ديالوګ په شکل سره راولي په همدې ډول دزده کوونکو سره مرسته وشي چې دا نوې ترتيب شوي مواد چې ټول اشنا اومروج عناصر پکې راغلي وي ولولي .

دريمه مرحله :.
زده کوونکي دې د داسې موادو په لوستلو پيل وکړي چې په هغه کې ځينې نامانوسه (اشنا) کلمې اوترکيبونه پکې وي دا رنګه مواد د ښوونکي يوه کميته ترتيبوي ، دلته دپام وړ خبره داده چې پدې متنونو کې اسان او ساده عبارات راغلي وي دزده کوونکو علاقه اودعمر درجه هم په نظر کې ونيولای شي د تجربې له مخې ثابته شوي ده چې که چيري (۳۰) اشنا کلمې تدريس شي نو بايد چې يوه نوې کلمه پکې راشي پدې سويه کې يوه طريقه غوره شوي ده چې دګرامري لوستلو څخه يوه برخه دعملي کار لپاره وټاکل شي .

څلورمه مرحله :.
ځينې خلک ديوه ساده کلاسيکه او يا ديوې مجلې څخه د لوستلو يو عبارت ټاکي ځينې نور خلک شته چې هغوی له دې نظرې سره مخالفت لري ، دوی وايي چې زده کوونکو ته لاډير بهتر مآخذ مارکيټونه ، بازار اود پيريدلو او پلورلو ځايونه دی . په ځانګړې توګه هغه زده کوونکي چې دوی د اصلي متن په لوستلو قدرت ونه لري او ددوی غوره مواد د تدريس لپاره مرتب مثال شي لکه ددريمې مرحلې مواد چې ولوستله شو.
پنځمه مرحله :.
منحد شوي مواد اودکتابونو ټوله نړۍ بايد دزده کوونکو په مخ و ارزه وي .
داچې پنځمې مرحلې ته زده کوونکي څه وخت رسيږي ؟ په دې ډول وايي :
ځنې زده کوونکي شايد هيڅکله دې مرحلې ته ونه رسيږي . ځکه چې دوی په خپله مورنۍ ژبه کې هم دې مرحلې ته نه دي رسيدلي. ځينې زده کوونکي دي چې د عالي ښوونځي په کلني پروګرام کې رسيږي .

۱.هغه لوستل چې په ورځو ويشل کيږي د يوې ورځې يوه برخه ده په دوو يا دريو حصو ويشلی شي تر څو چې خپلو لارو چارو ته مختلف شکلونه ورکړي شي .
۲.د لوستلو دتشويق لپاره بايد يو ډول طريقه پيدا شي چې دزده کوونکو ارزوګانې اوهيلې ددوی د تجربو په اساس په نظر کې ونيول شي . او که دغه لوست ديوې لويې کتنې يوه برخه وي نودهغې کتنې په اساس دې ترتيب ونيول شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳.د لوستلو هدفونه دې داسې ورته ووايي: څه کوي ؟ چې په راتلونکي کې به څه پيښه وشي ، راځې چې ددې کار علت معلوم کړو . يا راشئ چې په دې باره کې زيات معلومات لاسته راوړو.

## د ليکلو تکړه توب

د انسانانو له خوا يو شمير منل شوو حرکي سمبولونو (نښو) کښلو اورسمولو ته ليکل وايي.
هره نښه د يوه غږنمايندګي کوي چې په خپله يا دنورو نښو له ترکيب سره د بامفهومه صوتي غږونو نورواحدونه او شکلونه جوړوي . دا کوچني واحدونه کلمې دي چې دشکلونو له ترکيب څخه يې عبارت او جملې جوړيږي .
دمورنۍ ژبې دلومړي درس څخه دليکلو فعاليت او تکړه توب پيل کړي . زده کوونکي د کلمې ليکل په تخته کې مشاهده کوي اوښوونځی دليکلو ځاى دی .
زده کوونکي د مورنۍ ژبې دا څلورم تکړه توب چې ليکل دي په ښوونځي کې زده کوي ماشومان دلومړی ځل لپاره د کلماتو ليکل د ګوتو په واسطه په هواکې ، او همدارنګه دکلماتو ليکل په شګه او دميز په سر دګوتو په واسطه ليکي اوليکل زده کوي او دا عمل څو ځوځله تکراروي اووروسته بياپه تختواو کتابچو کې ليکل شروع کوي .
چې اول د حروفو او اسانه کلماتو په ليکلو پيل کوي چې البته د ښوونکو په وسيله کورنۍ اود ټولګي دندې ورکول کيږي او ښوونکی دنومړو وظيفو نظارت کوي اود زده کوونکو کورنۍ دندې ګوري اواصلاح کوي يې تر څو زده کوونکي ددې تکړه توب په زده کولو کې تشويق او راهنمايي شي .
ښوونکی کله چې د چارت ، فلش کارت او يا د تختې په مخ ليکل کوي نو بايد ډيره پاملرنه ولري چې ښه وليکل شي .
املا اوانشا بايد په نظر کې ونيول شي ، ددې دپاره چې د ښوونکي ليک د زده کوونکو لپاره سرمشق دی.
ښوونکی بايد په ليک کې دزده کوونکو وده او پرمختګ په نظر کې ونيسی دليکلو په وخت کې دماشومانو کښيناستل د ځمکی پرمخ او دچوکۍ په سر وښودل شي تر څو ماشومان د ښوونکي دلارښوونې سره سم په ښه توګه په چوکيو اوځمکه کښيني او ليکل وکړي .
دلومړي ټولګي زده کوونکو عضلات په هغه اندازه چې لازم دی پرمختګ نه کوي.
له دې کبله حروف او کلمې په ښکلي ليک سره نه شي ليکلای نو لازم دی چې د غټو پنسلونو او داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاغذونو چې دخط کشۍ مینځ کې یې فاصله زیاته وي ورته تهیه شي ترڅو زده کوونکي وکولای شي په هغه کې لیکل وکړي .

لیک یوبطي آموزش دی چې په یوه هفته ،میاشت حتی په یوکال کې نه زده کیږي .

روحیات پیژندونکي په دې نظر دي چې ماشومان باید مجبور نه شي که په کیڼ لاس لیک کوي خپلې رویې ته تغیر ورکړي . دغه ډول مجبوري ددې سبب ګرځي چې ماشومان په لیک کې کمزوري تربیه کیږي . باید ښوونکی د تشویق څخه کار واخلي تر څو زده کوونکی خپل دا عادت ترک کړي . دا کار دزده کوونکو په ګټه تماميږي .

لیکنه داسې یوه وسیله ده چې دهغې په مرسته سړی کولای شي خپله شخصي عقیده او فکر نورو ته څرګند کړي . که چیرې درس او لیکنه د زده کوونکو د ضرورت او علاقې سره سم وي ، ماشومان په اخیري اندازه دزیار څخه کار اخلي .

ښوونکی باید زده کوونکي پدې مطلب پوه کړي چې دلیک ستر اهمیت دې سره اړیکي پیدا کوي چې دبشریت ځانګړی تاریخ د لیک د تاریخ څخه پیل کیږي چې دبشر تمدن دلیک زیږنده وي .

البته دا وروستۍ خبره درسته نه ده ، خو په عنعنوي توګه مؤرخین د لیک د پیدایښت نه مخکې دورې ته لاد تاریخ نه مخکې دوره (ماقبل التاریخ دوره ) وایي.

لیک د بشریت دفرهنګي موازینو په ساتنه اوانتقال کې ډیر زیات ارزښت لري دنړۍ نامتو لیکوال دخپلو لیکنو په برکت نه یواځې د خپل عصر دخلکو سره خبرې کوي بلکې دراتلونکو نسلونو غوږونو ته هم خپل پیغام رسولی شي .

د روح پیژندونکو په عقیده د لیک په ښودنه کې باید دا لاندې ټکې په پام کې ونیول شي :

۱.پریږدۍ چې زده کوونکي د لیکنې موضوع پخپله انتخاب کړي ، دخپل ذوق اوعلاقې سره سم مقاله ، شعراو کیسې یا ډرامې ولیکي .

۲.زده کوونکي ته دې دلیک په ښودلو کې ازادي ورکړل شي او ترممکنې اندازې پورې دې دفورمالیزو او شکل پرستۍ مخه ونیول شي.

۳- د ګرامر او املا په باب انتقادي ، افراطي بڼه دې نه غوره کوي .

۴.دلیک ښودنې ځینې قاعدې دي دضرورت په وخت کې په تطبیقي بڼه تشریح کړي .

۵.د لیکلو د سویې لوړول یوازې د ښوونکي دنده نه ده ؛ بلکې نور ښوونکي هم باید د خپلو کارونو په ساحه کښې زده کوونکي لیکنو او څیړنو ته وهڅوي.

۶.د لیکنې اساسي هدف دمفکورو انتقال دی . ښوونکي اوزده کوونکي باید دغه اصل له نورو تکنیکونو څخه لومړی او مقدم وګڼې.

۷.کوم زده کوونکي چې په لیکلوکې تبارز وکړي دهغوی دتحسین او تقدیر دپاره دې لارې او چارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولټوي .
په عامه توګه ليکل په دوه ډول دي :
١.تقليدي ليکنه :چې دکتاب يا نورو ليکنو څخه ليکنه سرته رسيږي
٢.نوښتي يا ابتکاري ليکنه : د يوه شي حالت يا واقيعتونو په باره کې په خپله داشخاصو د ذهن ،فکر اوتخيل تصويرونه وي .
په زده کوونکو کې دليکلو دمهارت د ودې ورکولو او پياوړې کولو پر مهال ښوونکی بايد لاندې ټکو ته پاملرنه وکړي :
١.داسې ليکنه دې وشي چې لوستلونکی يې په اسانۍ سره ولوستلای شي .
٢.دهرې کلمې توری بايد په خپل ځای کې څرګند او دلوستلو وړ وي .
٣.دټکو لرونکو تورو او کلمو ټکي بايد په خپل مناسب ځای کې څرګند وليکل شي څوچې په لوستلوکې زده کوونکو ته تيروتنه رامينځ ته نه کړي .
٤.په هره جمله کې بايد يوه يوه کلمه بيله ،څرګنده او واضيحه وليکل شي دبيلګې په ډول :
دا د دادا دام دی =دا.د.دادا .دام .دی
٥.زده کوونکی دې پر توره تخته ليکل شوې کلمې (ګرانې او پيچلې ) په کتابچو کې يا پر توره تخته مشق کړي .
۶.زده کوونکی دې ګټورې اونوې کلمې اودهغو ماناوې (له کتاب څخه برسيره ) چې د ښوونکی په واسطه پر توره تخته ليکل شوې وي خپلو کتابچو ته ورسوي .
٧.زده کوونکي دې اصلاح شوې کلمې هم خپلو کتابچو ته ورسوي بيا د په ټولګي يا کور کې هغه څو ځله تمرين کړي .
٨.د زده کوونکو له خوا سرته رسيدلې تيروتنې دې تر هغه چې نور زده کوونکي يې داصلاح کولو توان ولري ښوونکی نه اصلاح کوي .

دليکلو لپاره ځينې تمرينونه :ښوونکی دې د کتاب له پيل څخه تر پای پورې د زده کوونکو دليکلو دتکره توب د پياوړتيا له پاره دهغوی دسويي ،استعداد او علاقې سره سم زده کوونکو ته لاندنې يا نور ورته تمرينونه ورکړي .
١.په داسې حال کې چې کتابونه يې تړلي وي ښوونکی يا زده کوونکي په خپله يو بل ته د ځينو کلمو املا وايي زده کوونکي يې پرتوره تخته يا کتابچو کی ليکي .
٢.ښوونکی متن پرتوره تخته ليکي يا په کتاب کې يوه برخه ټاکي بيا د زده کوونکو بيلو بيلو ګروپونو ته دنده ورکوي چې له هغې څخه د شيانو نومونه يا فعلونه يا صفتونه يا ضد کلمې يا هغه کلمې چې په ک يا بل کوم ځانګړي تورې پيل شوي وي ورڅخه وليکي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳.ښوونکی زده کوونکو ته عنوان ،مثلا دخوړو نومونه ،دمیو نومونه ،دورځو نومونه ،دهیواد نومونه ،دهغو کسانو نومونه چې په (م)پیل کیږي پر توره تخته لیکي ؛بیا له زده کوونکو غواړي چې هغوی له ځانه فکر وکړي او بیا دهغو اړوند نومونه ،کلمې ولیکي .
۴.ښوونکی یو شمیر کلمې ورکوي یا زده کوونکي ګروپونو کې یو بل ته ځینې کلمې وایي اودهغو په باره کې جملې جوړوي .
۵.ښوونکی یا زده کوونکي پخپله یو بل ته ځینې پاراګرافونه /جملې داملا په ډول وایي .
۶.زده کوونکو ته ځینې ګډې وډې کلمې ورکولی کیږي چې له هغو څخه مناسبې جملې جوړې کړي .
لکه : هلک ، دا ، سبق ،وایي ...
۷.د یوه پاراګراف دتنظیم لپاره ځینې ګډې وډې جملې ورکولی کیږي چې دمنطقي تسلسل په نظر کې نیولو سره هغه تنظیم وړاندې او وروسته کړي او یو بامفهومه عبارت ترې جوړکړي .
۸.زده کوونکو ته دنده ورکول کیږي چې لومړی یو ټاکلی عبارت /متن یا دخپلې خوښې یو عبارت یا متن ولولي او بیا دې په کتابچو کې په خپلو کلمو او عبارتونو سره د هغې مفهوم ولیکي.
۹.زده کوونکو ته دنده ورکوله کیږي چې پرته له دې چې کتاب بیا وګوري د هماغې ورځې ددرس مطلب یا لنډیز په خپله ژبه کتابچو کې ولیکي .
۱۰.زده کوونکو ته دنده ورکول کیږي چې یوعنوان / موضوع پخپله خوښ کړي (یا ښوونکی عنوان /موضوع ورکول) بیادې دهغې په باره کښې څو منظمې اومرتبطې جملې ولیکي .
۱۱.زده کوونکو ته دنده ورکول کیږي چې په خپلو کتابچو کې پلار ،خپلوانو او دوستانو ته لیک د ښوونځې او دلارې ته رفعه یا در خواست ولیکي .

## تدریسی پلانونه

پلان په لغت کې تعبیر او اټکل ته وایي او په اصطلاح کې د یو کار او یافعالیت سرته رسولو لپاره ذهني نقشې او تګ لارې ته پلان وایي .
درسي پلان یوه سیستماتیکه او منظمه تګ لاره ده چې دښوونکي او زده کوونکو ټول داسې فعالیتونه د سرته رسیدو په خاطره په درسي پلان (یو ساعته درسې پلان) کې د ښوونکي له خواځای کړای شوي وي .
د یوه مهال ویش له مخې وضعه شوی پروګرام په ښوونځیو کې عملي کیږي نو لوست دهماغه مظمون

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمطالبو څخه تعليمي واحد دی. چې پر همدې اساس هر لوست ځانګړې خاصې لري ، ښوونکی باید ددې مطالبو په ښه پوهولو او درک کولو کې د زده کوونکو سره زیات کوښښ او جدیت وکړي .
ښوونکي ته ضروري ده چې مخکې له تدریس څخه په دقیق ډول د پروګرام د هر لوست موقیعت د کال په اوږدو کې خپل ځان ته معلوم کړي .چې دهمدې کبله ښوونکی اړتیا پیدا کوي چې دخپل کار پلان جوړ کړي .
ښوونکی دخپل کار د پلان لپاره اړتیا لري چې په پلان کې تعلیمې نصاب ، دپروګرام مفردات د زده کوونکو لیاقت او سوه ، دتدریس نوي روشونه ، وخت او مهال ویش ،د ټولګي فزیکي وضع ،موسم درسي کومکي مواد .... او ځینې نور ضروري اولازمي شیان په نظر کې ونیسي .
د اچې په عمومي توګه دهغوفعالیتونو دمجموعي له تصور څخه عبارت دی چې په راتلونکي کې عملي کیږي .په همدې اساس په عمومي ډول دتدریس په برخه کې له درې ډوله پلانونه څخه زیات کار اخستل کیږي .

## الف ـ *طویل المدت پلان:*

هغه پلان دی چې د پروګرام ټولو عمومي موضوعګانو د سرته رسولو لپاره په کار لویږي او دیه تعلیمي کال د طرح شوو موضوعاتو د وخت تنظیم او نورې ضروري اړتیاوې پکې په نظر کې نیول کیږي . چې ښوونکی دغه پلان د کلني تقدیمي پلان په نوم پیژني او په لاندې ډول طرح او ترتیب کیږي

## *د کلني تقریبي پلان طرح او ترتیب:*

کله چې ښوونکی د خپل کلني کار پلان ترتیبوي باید د کال په موده کې ددرسي موضوعاتو اجرا او پرمختګ په نظر کې ونیسي ، رخصتي ، ددرسي ساعتونو شمیر ، علمي سیرونه ،عملي کارونه په همدې ډول ټولګي نه دباندې درسونه دمهال ویش او جنتري له مخې ښودل کیږي .
ددرسي موضوعاتو دتدریس وخت د کال په بهیر کې د پلان له مخې تعینیدای شي .
په لنډ ډول د کلني تقویمي پلان په ترتیب کې لاندې لاندې ټکي په پام کې نیول کیږي :
۱.په لومړي قدم کې دنوي تعلیمي کال دمهال ویش په اساس دمضمون ددرسي ساعتونو شمیر د ټاکل شوو ورځو سره په پام کې نیول کیږي .
۲.په دویم قدم کې ښوونکي ته باید د تعلیمي کال پیل او پای واضح وي . تعلیمي میاشتې باید مشخصې کړي اودترتیب شوي جدول په مربوط ستون کې یې ولیکي .
۳.ښوونکی باید دځلورنیم میاشتنۍ ازموینې ،کلنۍ آزموینې ، ددوبي او ژمي اونورو رخصتیو نیټې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظر کې ولري .

۴.ښوونکی باید د خپلو درسي ساعتونو شمیر په میاشت او تعلیمي کال مشخص کړي .

۵.که چیرې د ښوونکي دتدریس ټاکلې نیټې د عمومې رخصتیو ورځو سره تصادف کوي ، باید ښوونکی یې یاداشت کړي ؛په همدې ډول په تخمیني ډول دمشکلاتو ،ناروغیو اونورو اړتیاوو لپاره په تعلیمي کال کې وخت اوموده په نظر کې ونیسي اودیو تعلیمي کال ددرسي ساعتونو له اصل شمیر نه یې طرح کړي .

۶.دمشخصو ساعتونو شمیر دتعلیمي میاشتو او کال په اوږدو کې دتدریس لپاره په نظر کې ونیسي او دجدول په مربوطه ستون کې یې درج کړي . ښایي په ځینو میاشتو کې درخصتیو له کبله ددرسي ساعتونو شمیرکم او زیات شي .

۷.بیا دکتاب ټول مخونه په داسې ساعتونو وویشي اود هرې میاشتې دمخونو شمیر په مربوط ستون کښې ولیکي.

۸.په دې برخه کې هغه موضوعات چې غواړي چې په هره میاشت کې یې تدریس کړي دکتاب دمخونو او درسي ساعتونو په نظرکې نیولو سره په مربوط ستون کې ولیکي .

۹.وروسته په هره میاشت کښې ددرسي موضوعاتو په ارتباط دتدریس لپاره درسي کومکي مواد او لوازم په پلان کښې ولیکل شي .

۱۰.دتدریس او زده کړې د ښه والي لپاره باید دموضوعګانو په ارتباط د تدریس مشخص اصول او روشونه په نظر کې ونیول شي .

د پورتنیو مطالبو د زیاتې روښانتیا لپاره دکلني تقریبي پلان نمونه چې د سړو سیمو د ښوونځیو لپاره ترتیب شوې په وروسته جدول کې تاسو ته وړاندې کیږي:

کلني تقریبي تدریسي پلان فورمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (      ) درسي ساعتونو د پاره د پروګرام مفردات .      مضمون (        ) ټولګی ( )

| ګڼه | میاشتې | ساعتونه | دمضمون موضوعګانې | دکتاب مخ | درسي مواد او لوازم | دتدریس میتودونه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کب | | په دې برخه کې دهرې میاشتې ددرسي ساعتونو په اساس دتدریس لپاره موضوعګانې او عنوانونه لیکل کیږي . | په دې میاشت د کتاب څو مخه تدریس کیږي | درسي مواد او لوازم برابرول دهرې میاشتې دموضوعګانو په ارتباط مخکې دمخکې باید پلان ګذاري شي . | ټاکلي اصول اومیتودونه مخکې په نظر کې ونیول شي |
| ۲ | وری | | | | | |
| ۳ | غوایی | | | | | |
| ۴ | جوزا | | | | | |
| | سرطان | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسرطان له (۱۵) نيټې څخه تر (۳۰) نيټې پورې څلورمياشتنۍ آزموينه وي ؛ اوداسد دلومړې نيټې نه تر (۱۰)نيټې پورې د ګرمۍ په مناسبت رخصتي .

| ګڼه | مياشتې | ساعتونه | دمضمون موضوعګانې | دکتاب مخ | درسي مواد او لوازم | دتدريس ميتودونه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | اسد | | په دې برخه کې دهرې مياشتې ددرسي ساعتونو په اساس دتدريس لپاره موضوعګانې او عنوانونه ليکل کيږي . | په دې مياشت د کتاب څو مخه تدريس کيږي | درسي مواد او لوازم برابرول دهرې مياشتې دموضوعګانو په ارتباط مخکې دمخکې بايد پلان ګذاري شي . | ټاکلي اصول اوميتودونه مخکې په نظر کې ونيول شي |
| ۷ | سنبله | | | | | |
| ۸ | ميزان | | | | | |
| ۹ | عقرب | | | | | |

د قوس دلومړۍ نيټې نه تر (۳۰) مې نيټې پورې کلنۍ ازموينه اخستل کيږي .جدي ، دلو ،د حوت تر ۱۵ نيټې پورې رخصت وي.

په همدې ډول ښوونکی بايد دکلني پلان د جوړولو څخه وروسته خپل موضوعي تقريبي مياشتنې پلان هم ترتيب کړي .
ښوونکی مجبور دی چې دهرې مياشتې لپاره ددرسي ساعتونو شمير تعين کړي .
يعنې دکلني پلان د ساعتونو له مخې دهرې مياشتې لپاره ساعتونه وټاکي .

### ب ـ مياشتنې موضوعي تقريبي پلان :

ددې لپاره چې هر درسي مضمون د يو شمير موضوعاتو څخه چې دهغوی محتويات په منطقي دول تسلسل پيداکړي جوړ شوي . دا موضوعګانې چې په خپل مينځ کې منطقي ارتباط ولري په بيلو بيلو درسوکې مطالعه کيږي . خو دښوونکي لپاره پکار ده چې هرې مياشتې لپاره بيل بيل پلان هم جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي.

د تقریبي موضوعي پلان د جوړولو په وخت کې کولای شو چې لاندې مطالب په نظر کې ونیسو :

۱.په لومړی قدم کې دی جدول (د پلان فورم یا چوکاټ) ترتیب شي .

۲.د کلني پلان دیوې میاشتې دمطالبو او موضوعاتو په نظرکې نیولو سره هماغه مطالب په څلورو اونیو وویشل شي .

۳.د یوې اونۍ ددرسي ساعتونو په نظر کې نیول سره دکتاب دمخونو له مخې دهماغو ساعتونو موضوعات تعین شي او په مربوط جدول کې دې ولیکل شي .

۴.د هماغو موضوعګانو دتدریس لپاره دې په هغو ساعتوکې درسي مواد او لوازم برابر او په نظرکې ونیول شي .

۵.د زده کړي دښه والي لپاره باید دتدریس اغیزمن اصول او لارې چارې مخکې له مخکې په نظر کې ونیول شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پورته مطالبو په نظر کې نیولو سره د موضوعي تقریبي پلان نمونه په لاندې ډول وړاندې کیږي :

دمیاشتنې تقریبي موضوعي تدریسي پلان فورمه

د(   ) ساعتونو لپاره ، د پروګرام مفردات ،   مضمون (   ) ټولګی(   )

| ګڼه | میاشت | اونۍ | عنوان | د کتاب مخ | درسي مواد او لوازم | درسي میتودونه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړۍ | هره درسي موضوع د یوواحد درس څخه استازیتوب کوي | | دنوموړو عنوانو لپاره درسي مواد او لوازم په نظر کې ونیول شي او ولیکل شي | دنوموړو عنوانونو په اړوند درسي مواد او لوازم مناسب اصول او لارې چارې انتخاب او ولیکل شي |
| | | دوهمه | | | | |
| | | دریمه | | | | |
| | | څلورمه | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج- یو ساعته درسي پلان :

د موضوعي تقريبي پلان څخه وروسته ښوونکی ديوه درسي ساعت دپاره پلان جوړولو ته اړتيا لري .
څرنګه چې درسي پلان له يوې مرتبې منظمې امادګۍ څخه عبارت دی ، چې ښوونکی هغه مخکې له درس څخه تياروي او په خپل ټولګي کښې يې تطبيقوي .
درسي پلان د ماشومانو په زده کړې اود ښوونکي په تدريس کې زياتې اسانتياوي برابروي .پخواداسې تصور کيده چې ښوونه او روزنه يوازې ددرس وړاندې کول دي او ښوونځې هغه ځای دی چې دا درسونه پکې ورکول کيږي . کله تجربې مينځ ته راغلې دغې مفکورې ورو ورو تغير وکړ. يعنې ښوونځې يوازې ددرس او دحقايقو ددرک کولو ځای نه بلکې داسې يو ځای دی چې د فکر کولو ، پوهيدلو ، پوهولو او راپوهول ، د ځان او نورو په وړاندې د مسوليت احساسول او داسې نورو د زده کړې لپاره زمينه برابروي .
زده کوونکو ته د جسمي ، ذهني او ټولنيزو مسلو له پلوه توجه او پاملرنه کيږي .
د ښوونکي له خوا لارښونه ، ترغيب او تحريک صورت نيسي ؛ تر څو زده کوونکي په خپله کار وکړي او په خپل ځان متکي شي .
ددې لپاره چې پورتني هدفونه په لاس راوړو بايد دهر لوست لپاره درسي پلان جوړکړو.

## د يوه درسي پلان اهميت او ضرورت:

ددې لپاره چې تدريس په اغيزمن ډول سرته ورسيږي ؛ښوونکی بايد د خپل درسي پلان طرح کولو کې لاندې ټکي چې د هغوی اجرا دتدريس په وخت کې ضروري دي ، مراعات کړي
دا ټکي د ښوونکي سره د درسي پلان په طرح کولو کې مرسته کوي :
۱.په يقين سره درسي پلان دهرې ورځې کار د يو معلوم هدف په لورې بيايي اودمطلوبو هدفونو د لاس ته راوړلو لپاره زياته پاملرنه کوي ؛ او ښوونکی د تشويش او پراګندګي څخه ژغوري .
۲.درسي پلان په تعين سره دمختلفو درسونو په مينځ کښې ارتباط پيدا کوي ، په همدې ډول د موادو رابطه د درسي فعاليتونو سره ټينګوي او باعث کيږي چې ښوونکی په موضوع باندې حاکم اوسي ؛ تر څو ښوونکی ددرس له موضوع ونه وځي .

۳.د شاګردانو ترمينځ ځانګړې او فردي اختلافونو باندې اګاهي ولري او د پلان د ترتيبولو نه دمخه يې بايد په پام کې ولري.
۴.ددرسي پلان د طرحه کولو نه مخکې ښوونکی حقايق او واقيعتونه ګوري ، خپل زده کوونکي پيژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

، پوهیږي چې زده کوونکي یي څه اړتیاوې لري ،نو ښوونکی ددغو اړتیاوو دپوره کولو لپاره تیاری نیسي او هغه په خپل پلان کې ځایوي او درسي لوازم او وسیلې برابروي .
۵.ښوونکی باید دتدریس په لازمو او ضروري تکتیکونو او پرنسیپونوکې وارد وي ترڅو درسي پلان طرحه په بریالۍ توګه سره سرته ورسیږي .

## د یو ښه درسي پلان اساسي برخې:

په عمومي توګه په یوه درسي پلان کې دغه لاندې اساسي برخې شاملې دي :
۱.هدفونه:
۱.الف : اصلي اواساسي هدف
۱.ب: عمومي هدفونه
۱.ج: خصوصي هدفونه

۲.درسي مواد
۳.دتدریس لارې چارې او میتودونه
۴.ددرس موضوع
۵.دلوست دتطبیق مرحلې
۵.الف: د نوې لوست دپیل نه مخکې
ټولګې ته په سلام اچولو سره ننوتل ، دزده کوونکو سره احوال پوښتنه او دټولګي تنظیم او حاضري اخیستل.
کورنۍ وظیفه کتل او اصلاح کول ،دتیر لوست پوښتنه ، د زوړ او نوي درس ترمنځ اړوندي ټینګول ،دنوي درس معرفي کول اودنوي لوست پیل کول .
۵.ب: دتدریس عملي جریان (دنوي لوست قدمونه او فعالیتونه ) دښوونکې او زده کوونکو له خوا

| د ښوونکي فعالیتونه : | دزده کوونکو فعالیتونه: |
|---|---|
| | |

۶.د نوي لوست ارزیابي
۷.نتیجه
۸.کورنۍ دنده

| | |
|---|---|
| ۱.لومړی قدم.... | ۱.لومړی قدم... |
| ...۲.دوهم قدم | ...۲.دهم قدم |
| .... ۳.دریم قدم | ...۳.دریم قدم |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹.د پلان تغیر اونوي وړاندیزونه

د هر ښوونکي لپاره د یو درسي پلان په جوړولو کې د پورتنۍ مطالبو رعایت کول ضروري اولازمي ګڼل کیږي .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**